# د ایمان د بنسټونو تشریح

# د عقیدی یوه برخه

تالیف: فضیلة الشیخ محمد صالح العثیمین رحمه الله

ترجمه: إسرار الحق عبد الحي

مراجعة: عبد الرحيم سلطان

## بسم الله الرحمن الرحيم

## مقدمة

إن الحمد لله نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونتوب إليه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا، ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله؛ فلا مضلَّ له، ومن يضلل؛ فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أنَّ محمدًا عبده ورسوله، صلَّى الله عليه، وعلى آله، وأصحابه، ومن تبعهم بإحسان، وسلَّم تسليمًا أما بعد:

## سريزه

بيشکه ټول د الوهيت صفتونه الله لره دی د هغه ثنا وايو او د هغه څخه مرسته او له هغه څخه بښنه غواړو او هغه ته توبه اوباسو او پنا نيسو دالله تعالى په ذات د خپلو نفسونو او دخپلو بدو عملونو د شرونو څخه څوک چې الله په سمه لار روان کړي د هغه دپاره بې لارى کونکي نه شته او څوک چې الله بې لارى کړي د هغه دپاره په سمه لاره روانونکي نه شته، ګواهي کوم ددې خبرې چې نه شته لائق د عبادت مګر يو الله دې او شريک نه لرى او ګواهي کوم په دې خبره چې

یقینا محمد صلی الله علیه وسلم دالله بنده او د هغه رسول دې.

ددي نه پس یقینا دتوحید زده کړه په ټولو زده کړو کې ډیر شرف لري اوپه ټولو علوموکې ددی مرتبه ډیره دقدر وړده اوپه ټولو زده کړو کې دوجوب په اعتبار ډیر کلک واجب دی دمقصد په لحاظ سره، ځکه چې دا دالله تعالی دذات پیژندنه ده اودهغه دنومونو او د صفتونو پیژندنه ده اوپه بنده ګانو باندی دهغه دحقوقو پیژندنه ده او چې کومه لیارالله تعالی ته ورغلې دهغې کونجي ده او د ټولو شریعتونو بنسټ دی.

همدا وجه ده چې ټولو پیغمبرانو دی ته بلنه ورکړیده. الله  تعالی فرمایلی:

وَمَا أَرْسَلْنَا من قَبْلِكَ من رَّسُولٍ إِلاَّ نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ أَنَا فَاعْبُدُونِ( سورة الأنبياء 25)

(مونږ نه دی لیږلی پخوا ستا څخه هیڅ یوپیغمبر مګر مونږ هغه ته وحی کړی ددی خبری چې نشته لایق دبنده ګۍ مګرزه یم نوزماعبادت وکړئ).

اوالله تعالی پخپله پخپل یوالي ګواهي کړیده اوملایکو اودعلم خاوندانو وربانذی هم ګواهي کړیده، الله تعالی فرمایلی:

شَهِدَ اللهُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُوا الْعِلْمِ قَآئِمًا بِالْقِسْطِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ(سورة آل عمران 18)

(ګواهي کړی الله تعالی یقینا دا الله چي دی نشته لایق دعبادت مګردا الله دی او ملایکو او دعلم خاوندانو هم داګواهي کړیده پداسی حال کي چي دغه ګواهي په انصاف ولاړه ده نشته لایق دعبادت مګر داالله دی زورورډی حکمتونو والا دی).

هر کله چي دتوحید دا شان دی نویه هرمسلمان لازم ده چي دتوحید لحاظ وساتي په زده کړه کي، اوپه بل ته ښودلوکي، اوپه فکر کولو کي، اوپه عقیده لرلوکي ددی دپاره چي دخپل دین تعمیرپه روغ بنسټ باندی اوپه اطمئنان، اوپه پوره غاړه ایښودلو باندی کیږدي چي دهغي په میوو او نتیجو باندی نیکمرغه شي.

## اسلامي دين:

اسلامي دين هغه دين دی په کوم چې الله تعالی محمد-صلی الله عليه وسلم-راليږلی اوپه ده سره يې ددينونوسلسله ختمه کړی اوپوره کړيده دبنده ګانو دپاره، اوپه ده سره يې په خپلوبنده ګانوخپل نعمت پوره کړی اوغوره کړی يې دی ددوي دپاره دين نو دهيچاڅخه الله تعالی دين نه قبلوي مګرچې قبلوی يې هغه اسلام دی.الله تعالی فرمايلی:

(مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا) [سورة الأحزاب: 40]

(نه دی محمد-صلی الله عليه وسلم- په تاسوکې پلارديوسړی ليکن دالله رسول دی اونبوت ته يې دپای ټکی ايښی)

اوالله تعالی فرمايلی:

(الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلَامَ دِينًا) [سورة المائدة: 3] .

(نن ورځ می پوره کړ ستاسی دپاره دین ستاسی اوپوره می کړ په تاسو نعمت خپل اوغوره می کړستاسو دپاره اسلام دین).

اوالله تعالی فرمایلی: (إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللهِ الإِسْلاَمُ) [سورة آل عمران: 19] .

(بیشکه دالله تعالی په نیزمنلی شوی دین هغه اسلام دی).

اوالله تعالی فرمایلی:

(وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الإِسْلاَمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ) [سورة آل عمران (85) ] .

(هغه څوک چي داسلام څخه په غیربل دین لټوي هرګز به ورڅخه قبول نه شی او په اخرت کي به دتاوانیانوڅخه وي).

بیشکه الله تعالی په ټولوخلکوفرض کړیده چي الله تعالی ته دی تدین په دین اسلام سره وکړي.

الله تعالی خپل رسول ته خطاب کړیدی:

(قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ فَآمِنُواْ بِاللهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ) [سورة الأعراف: 158] .

(ووايه اى پيغمبره اى خلكوتاسو ټولوته زه الله رسول راليږلى يم،هغه الله چې خاص دهغه دپاره دى اختياردااسمانونواوځمكې نشته لايق دعبادت مګردغه يوالله دى ژوندي كول كوي او مړه كول كوي پس ايمان راوړئ په الله اودهغه په پيغمبرچې نبى دى اوامى دى اوپيغمبرهم يقين لرى په الله اودهغه په خبرواوددى پيغمبرتابعدارى وكړئ ددى دپاره چې په سمه لياررروان شئ).

په صحيح مسلم كې دابوهريره-رضى الله عنه-څخه روايت دى هغه دنبى-صلى الله عليه وسلم-څخه روايت كوى بيشكه نبى-صلى الله على وسلم-فرمايلى:

(والذي نفسُ محمد بيده، لا يسمعُ بي أحدٌ من هذه الأمّة: يهودي، ولا نصراني، ثم يموتُ، ولم يؤمنْ بالذي أرسلتُ به؛ إلا كان من أصحاب النار) رواه مسلم، كتاب

الإيمان، باب وجوب الإيمان برسالة نبينا محمد صلى الله عليه وسلم، رقم (384)

(قسم دی زماپه هغه ذات وی چې دمحمد-صلی الله علیه وسلم-نفس دهغه په لاس کې دی چې خبرنه شی زماپه رسالت یوکس ددی امت که هغه یهودی وی اوکه نصرانی اوبیامرګ راشی هغه ته په داسی حال کې چې ایمان یې نه وی راوړی په هغه دین چې زه وربانډی لیږلی شوی یم مګر دی به داوردخاوندانوڅخه وی).

په پیغمبربانډی ایمان:

باورکول په ټول هغه څه بانډی چې دې نبي راوړې وي سره دمنلواوغاړي ایښودلو نه یواځې باورکول.

د دی وجه نه ابوطالب باورکوونکی نه شمیرلی کیږي په رسول-صلی الله علیه وسلم-بانډې سره ددی چې رسول- صلی الله علیه وسلم- په کوم دین راتګ کړې وودهغې تصدیق یې هم کاوه اوګواهي یې کوله چې په ټولو دینونو کې بهتر دین دی. اسلامي دین کې ټول هغه مصلحتونه شته کوم چې په پخوانو دینونو کې وو،خوپه پخوانو دینونو د اسلام غوروالی دادی چې

اسلام د هروخت د هرځای او د هر امت دپاره مناسب دی.

الله تعالی خپل پیغمبر ته خطاب کړیدی:

(وَأنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ) [سورة المائدة: 48]

[مونږتاته کتاب راليږلی دی دحق دښکاره کولودپاره په داسی حال کې چې داتصديق کوی دهغه کتابونوچې مخکې ددی څخه وواوداساتونکی دی په هغی کتابونو]

ددی خبری معنی چې دا دین دهری زمانی سره او د هر ځای سره او د هر امت دپاره مناسب دی یعنی عمل کول په دین اسلام دامت د مصلحتونو سره هیڅکله ټکر نلری که په هر وخت کې وي اوکه په هر ځای کې وي بلکه عمل کول په دین اسلام دا بعینه دامت خیرخواهی ده، او دا معنی قطعا نه ده چې دین اسلام به دوخت او یا دځای او یا د امت تابع وي، لکه ځینې خلک چې همداسې غواړي. دین اسلام حق دین دی او دا هغه دین دی چې الله تعالی زمه واري کړې دهغه چا د پاره چې په دی دین عمل وکړي ښنګه چې

ورباندی عمل کول په کار دی ددی چې الله تعالی به یې مدد کوي او غلبه به ورکوي په نورو خلکو.

الله تعالی فرمایلی:

(هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ) [سورة الصف: 9]

(الله هغه ذات دی چې رالیږلی یې دی خپل پیغمبرپه ګټورعلم اوحق دین باندي ددی دپاره چې پیاوړی کړي دغه حق دین په ټولو باطلو دینونو اګر که دغه کارمشرکان بدګڼي).

اوالله تعالی فرمایلی:

(وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ) [سورة النور: 55]

(وعده کړي الله تعالی دمومنانو سره او د هغه خلکو سره چې عملونه کوي دقران او سنت مطابق، قسم دی

خاماخا به دوي ته خلافت ورکوي په ځمکه کې لکه څنګه يې چې خلافت ورکړی وو مخکينو مومنانوته او مضبوط کړی يې وو دوی ته

دين ددوی هغه دين چې الله تعالی ورته غوره کړی وو، اوقسم دی خاماخابه ددوی يره په امن بدله کړي،

زماعبادت دی کوي اوهيڅ شی دی زماسره شريک برخی والا نه نيسي اوهغه څوک چې کفر وکړي وروسته له دی همدغه کامل نافرمان خلک دي).

اسلامي دين عقيده ده اواحکام دي اوپخپله عقيده اواحکاموکي پوره دی:

دالله په يووالی امرکوي او د شرک څخه ژغورنه کوي.

په رښتيا ويلو امر کوي او د درواغو ويلو څخه ژغورنه کوي،

په انصاف[1] کولو امر کوي او د ظلم کولو څخه ژغورنه کوي.

په امانت امرکوي اودخیانت څخه ژغورنه کوي.

په وعده باندې دپوره والی امرکوي اودبی لوزۍ څخه ژغورنه کوي.

دمور او پلار سره احسان کولو باندې امرکوي او د هغوې د ازارولو څخه ژغورنه کوي.

په خپلوۍ پاللو امر کوي اود خپلوۍ نه پاللو څخه ژغورنه کوي. په ښه ګاونډیتوب امر کوي او د بد ګاونډیتوب څخه ژغورنه کوي.

---

[1] - العدل:دورته شیانویوالی ته اودناورته شیانوجداوالی ته عدل وایي،مطلق برابروالی ته عدل نه وایي،ځیني خلک وایي:اسلام دعدل دین دی مطلقادغه خبره کوي.دناورته شیانوبرابروالی ظلم دی،اسلام کې ظلم نشته.

عامه خبره داده چي چيري ښه اخلاق وي اسلام وربانديٰ امر کوي او چيرى چي ښکته ناکاره اخلاق وي اسلام ور څخه ژغورنه کوي. اوپه هرنيک عمل امر کوي او دهر بد عمل څخه ژغورنه کوي.

الله تعالی فرمايلی:

(إِنَّ اللهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ وَإِيتَاء ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ) [سورة النحل: 90]

(بيشکه الله حکم کوي په انصاف کولوسره اوپه نيکۍ کولوسره اوخپلوانوته په ورکړه حکم کوي اوژغورنه کوي دهرى بى حيايي اودهرى ناروا اوظلم څخه ښه نصيحت کوي الله تاسوته ددى دپاره چي ضروری خبره رایاده کړئ).

داسلام بنسټونه:

داسلام بنسټونه:هغه بنسټونه چي اسلام وربانديٰ جوړدی هغه پنځه دی ذکر شوی په هغه حديث کي

چې دعمرزوى دنبى-صلى الله عليه وسلم-څخه روايت کړى بيشکه نبى-صلى الله عليه وسلم-فرمايلى دى:

(اسلام په پنځه شيانو جوړ دى،په دى خبره چې الله يووګڼې اوپه يوبل روايت کې(على خمس)په تذکيرسره راغلى،

شهادةِ أنْ لا إله إلا الله، وأنَّ محمدًا عبده ورسوله، وإقامِ الصلاة، وإيتاءِ الزكاة، وصيامِ رمضان، والحجِّ) فقال رجل: الحج، وصيام رمضان، قال: (لا، صيام رمضان، والحج) ، هكذا سمعته من رسول الله صلى الله عليه وسلم

ګواهي کول په دى خبره چې نشته لايق دعبادت مګريوالله دى اوګواهي کول په دى چې بيشکه محمد-صلى الله عليه وسلم-دالله بنده دى اودهغه رسول دى، اودرول دلمانځه، اوورکول دزکات، او روژه نيول درمضان دمياشتى، او حج کول)يوسړىوويل:

(الحج وصیام رمضان)دعمرزوی-رضی الله عنهماوفرمایل نه:(صیام رمضان والحج)ما د رسول الله-صلی الله علیه وسلم-څخه داسی اوریدلی دي .متفق علیه

واللفظ لمسلم.هرچې ګواهی په دی خبره چې نشته لایق دعبادت مګریوالله دی اوبیشکه محمد-صلی الله علیه وسلم-دالله بنده اودهغه رسول دی.دا ګواهي یوه مضبوطه عقیده ده چې تعبیریې په ژبه باندی په کلمه دشهادت داسی شوی وي چې ګویا کلک ومومي ده لره په دغه عقیده باندې یولیدونکی.اوبیشکه ګرځولی شوی دغه ګواهي یوبنسټ سره د یو شمیر نورو هغه شیانوچې په کارده ګواهي وربانددی وشي.

یا ددی وجه نه چې پیغمبر د الله دطرفه رسوونکی دی،ګواهی کول دپیغمبرپه هکله چې دالله بنده دی اودهغه رسول دی،داددی ګواهۍ دپاره:چې نشته لایق دعبادت مګریوالله دی دپوره کوونکوڅخه ده.

اویا ددی وجه نه چې دغه دوه ګواهیانی بنسټ دی دعملونو د صحت اود قبلولو دپاره،ځکه هیڅ عمل نه قبلیږی اونه صحیح کیږي مګر چې اخلاص په کې دالله

دپاره وي او تابعداری په کې درسول-صلی الله علیه وسلم-وي دالله تعالی دپاره په اخلاص کولوسره د(لااله الاالله) د ګواهۍ تثبیت کیږي او د رسول-صلی الله علیه وسلم-په تابعدارۍ باندی د(ان محمداعبده ورسوله) د ګواهۍ تثبیت کیږي.

ددغه لوی ګواهۍ دفایدوڅخه یوه فایده داده چې زړه اونفس دمخلوق دغلامۍ څخه اودهغه

خلکودتابعدارۍ څخه چې پیغمبران نه دی ازادیږي.

<u>۱: هر چې ودرول د لمانځه دی:</u>

دا بندګی کول دی الله تعالی د پاره په کولو ددی په داسی طریقه باندی چې همیشه وی او پوره وی او پخپل وخت مستحبه کی وی او په هیئت شرعی باندی وی

<u>۲: ددی بنسټ فایدی:</u>

د سینی پراخی، د سترګو یخوالی، او د بی حیایي او ټولو بدو کارونو څخه ژغورنه ده.

## ۳.هر چې ز کات ورکول دی:

دا بندګی کول دی د الله تعالی د پاره په خرچ کولو د هغه مالونو چې شریعت په کی یوه خاص حصه اندازه کړی او واجب کړیده.

## د زکات د ورکولو فایدی:

نفس د بخل څخه پاکوی، د اسلام اومسلمانانو حاجتونه له منځه وړی.

## ۴. هر چې روژه نیول درمضان دی:

دا بندګی کول دی د الله تعالی په ځان ساتلو سره دېولو هغه شیانو څخه چې هغه روژه ماتونکی دی د رمضان دمیاشتي په ورځو کی

## د روژی نیولو فایدی:

نفس کش کول له هغه شیانو څخه چې ورسره مینه لری د پاره د لټولو د رضا د الله تعالی.

## ۵.هر چې حج د بیت الله دی:

دا بندګی کول دی د الله تعالی د پاره د هغه عزتمندی کوټی په نیت کولو د پاره د دریدلو په هغه ځایونو د حج چې الله تعالی ورته عزت ورکړی.

## د حج کولو فایدی:

په دی کی تهذیب د نفس دی په مالی او بدنی طاقت خرچه کولو سره د الله تعالی په تابعداری کی.ددی وجی نه حج د الله تعالی په لیاره کی د جهاد یوه نوعه ده.

دغه فایدی چې مونږ یی یادونه وکړه ددی بنسټونو او هغه چې مونږ یی یادونه نه ده کړی ددی امت څخه پاک روخانه اسلامی امت جوړوی چې عاجزی به کوی الله تعالی ته لایقه عاجزی او د خلکو سره به د انصاف او ریښتینی چال چلند کوی.ځکه ددی څخه علاوه نور احکام د اسلام چې دی د هغی صلاحیت ددی بنسټونو صلاحیت سره تړاو لری، د امت د احوالو خرابوالی ددوی د دینداری دخرابوالي په مقدار باندی وی.

که څوک غواړی چی دا خبره څانته په ډاګه کړی دا وینا د الله تعالی دی ولولی

(وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُواْ وَاتَّقَواْ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ وَلَكِن كَذَّبُواْفَأَخَذْنَاهُم بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ * أَفَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَى أَن يَأْتِيَهُمْ بَأْسُنَا بَيَاتًا وَهُمْ نَآئِمُونَ * أَوَ أَمِنَ أَهْلُ الْقُرَى أَن يَأْتِيَهُمْ بَأْسُنَا ضُحًى وَهُمْ يَلْعَبُونَ * أَفَأَمِنُواْ مَكْرَ اللهِ فَلاَ يَأْمَنُ مَكْرَ اللهِ إِلاَّ الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ) [سورة الأعراف: 96-99]

[که چیرته یقینا د کلو والا ایمان راوړي او تقوی اختیار کړي خا ماخا به مونږ راپرانیزو په دوی باندی برکتونه داسمانونو او د ځمکی یعنی (وخت په وخت به فایده مند بارانونه وریږی او د ځمکی حاصلات به زیاتیږی.) لیکن دوی نسبت د دروغو وکړ نو مونږ راونیول په سبب د هغه کسب چی دوی همیشه کاوه، ایا په امن کی دی د کلو والا چی راشی دوی ته عذاب زمونږ د شپی په داسی حال کی چی دوی بیده وی او ایا په امن کی دی کلو والا چی راشی دوی ته عذاب زمونږ څاښت وخت کی په

داسی حال کی چې دوي لوبې کوي ایا په امن کی دی دوي د الله تعالی دمکر څخه نه امن کی کیږی د الله تعالی د مکر څخه مګر هغه قوم تاوانی]

د مخکنو خلکو تاریخ دی وګوری، بی شکه په تاریخ کی عبرت دی د عقلمندو او بصیرت والاو د پاره چې زړه ته یې پردې نه وی ځړیدل شوی .الله تعالی مدد غوښتلی شوی دی.

د اسلامی عقیدی بنسټونه:

دین اسلام لکه مخکی تیرشو عقیده ده او شریعت دی او په تحقیق سره مونږ اشاره وکړه څه شی ته د بعض شریعتونو ددی او د هغی بنسټونه مو ذکر کړل هغه چې د اسلامی احکامو د پاره بنیادی بڼه لری.

هر چې اسلامی عقیده ده ددی بنسټونه په الله ایمان په ملایکو د الله تعالی،په کتابونو د الله تعالی ،په رسولانو د الله تعالی ،اوپه ورځ د اخرت باور کول او اندازه د خیر او شر د الله تعالی د طرفه باورول.

په تحقيق سره په دې بنسټونو قران دليل دی او سنت د پيغمبر ورباندې دليل دی.الله تعالى په خپل کتاب کې فرمايي:

(لَّيْسَ الْبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَالْمَلآئِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ) [سورة البقرة: 177]

(نه ده نيکي مخ اړول ستاسو طرف د مشرق ته يا طرف د مغرب ته ليکن پوره نيکي کونکې هغه څوک دي چې باور ولري په الله تعالى او په ورځ وروستى او په ملايکو او په کتابونو او په ټولو پيغمبرانو باندې )

او د قدر باره کې الله تعالى فرمايي:

(إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ * وَمَا أَمْرُنَا إِلاَّ وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ) [سورة القمر: 49، 50]

(بې شکه مونږ هر شی په اندازه کړی او نه دی کار څمونږ مګر يو د سترګو رپ دی.)

او په حدیث کی نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی په داسی حال کی چی جواب ورکونکی دی جبریل ته کله یی چی ایمان باره کي پوښتنه کړی:

(الإيمان: أنْ تؤمنَ بالله، وملائكته، وكتبه، ورسله، واليوم الآخر، وتؤمن بالقدر: خيره وشره)

( ایمان دا دی چی باور وکړی په الله او د هغه په ملایکو او د هغه په کتابونو او د هغه په پیغمبرانو او په ورځ د اخرت او باور وکړی په اندازه د خیر او شر)(مسلم)

په الله تعالی باور کول:

په دیکي په څلورو شیانو عقیده لرل ضروری ده:

لمړی:

د الله په شتوالی عقیده ساتل چی الله تعالی شته موجود دی .فطرت،عقل،شرعه،حس د اڅلورشیان د الله په وجود دلیل دی.

د فطرت دلالت د الله په وجود:

د ټولو مخلوقاتو پیدایش په دی عقیده شوی چی الله شته بغیر ددی څخه چی مخکی وربانْدی سوچ وکړی یا ورته زده کړه وکړی او د فطرت ددی غوښتنی څخه نه اوړی مګر هغه څوک اوړی چی په زړه یی داسی شی راغلی چی دغه شي د فطرت د ګټوری غوښتنی څخه اړولی دی.په دی خبره دلیل د نبی صلی الله علیه وسلم دا وینا ده:

(ما من مولود إلا ويولدُ على الفطرة، فأبواهُ يهودانه، أو ينصرانه، أو يمجسانه)

(نشته هیڅ یو پیدا کړی شوی مګر دهغه پیدایش په فطرت سره کیږی نو مور او پلار یی یا یهودی کړی یا نصرانی کړی یا یی مجوسی کړی) دا حدیث بخاری روایت کړی دی.

<u>د عقل دلالت د الله په وجود:</u>

دا مخلوقات مخکنی او ورستنی خلاصی نشته ددی څخه چی دا دی یو پیدا کونکی وجود ته راړونکی ونه لری ځکه دا کیدای نه شی چی دا مخلوقات دی خپل ځان پخپله وجود ته راوړی دا نشی کیدای چی خپل

ځان دی پخپله وجود ته راوړی ځکه یو شی د خپل ځان خالق نشی کیدای ځکه چی مخکی د وجود څخه دا پخپله نشت وو نو څنګه خالق شو؟

دا هم نشی کیدای چی صدفه(ناګهانه) دی خالق شی ځکه د هر حادث دپاره محدث ضروری دی ځکه چی وجود ته راوړل ددی مخلوقاتو په دی نا اشنا نظام سره او په خورا ښه ترتیب سره رایو ځای کول او دی ته یو قوی ربط ورکول د اسبابو او مسبباتو تر مینځ او ددی کایناتو تر مینځ دا ټول هغه دی چی قطعا دا خبره ردوي چی ددی دپاره دی خالق صدفه (ناګهانه) شی.ځکه چی صدفه پخپل اصل وجود کی په دی نظام سره نه وه نو څرنګه به په پاتی کیدو کی او د یو حالت څخه بل حالت ته تللو کی په دی نظام سره شی؟

هر کله چی داسی ثابته نه شوه چی مخلوقات دی د خپل ځان خالق شی او یا دی صدفه ددی خالق شی نو دا خبره ثابته شوه او متعینه شوه  چی ددی عالم د پاره موجد شته چی هغه الله تعالی دی او پالونکی دی د ټول عالم.

په تحقیق سره الله تعالی دا عقلی او قطعی دلیل په سورت طورکې ذکر کړی:

(أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ) [سورة الطور: 35]

( ایا دوی د الله تعالی نه بغیر کوم بل شی پیدا کړي او که دوي پخپله ځانونه پیدا کړي ) معلومه شوه چې ددوي خالق الله تعالی دی. دا وجه ده چې کله جبیر زوی د مطعم د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې سورت طور یې لوسته او دی ایتونو ته راورسیده

(أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ * أَمْ خَلَقُوا السموَاتَ وَالأَرْضَ

بَل لا يُوقِنُونَ * أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ) [سورة الطور: 35-37]

(ایا ددوی پیدایش د الله تعالی څخه غیر بل کوم شی کړی او که دوی پخپله د ځان پیدایش کړی او که دوی اسمانونه او ځمکه پیدا کړی داسی نه ده دوی یقین نه

لری ایا دوی سره ستا د رب خزانی دی او که دوی ساتونکی دی )

جبیر په دغه ورځو کی مشرک وو ویی فرمایل:

(كاد قلبي أن يطير، وذلك أول ما وقر الإيمان في قلبي)

نژدې ده زما زړه والوزی او دا لمړی هغه شیبې وې چې ایمان زما په زړه کې قرار ونیوه.)

دا اثر امام بخاری جدا جدا ذکر کړی.

یو مثال به بیان کړو په هغی سره به ښه وضاحت وشي چې تاته یو څوک ووایې چې یوه قلعه ده باغچه ورڅخه چاپیره ده اوبه پکی بهیږی د فرشونو او کټونو څخه ډکه ده په رنګا رنګ ډولونو ښایسته شوی دا بنګله او دا کمال او دا جمال چې په دی کی دی دا ټول پخپله وجود ته راغلي او یا تصادفي پیدا وو هیڅ پیدا کونکی یی نشته خپله وجود ته راغلی په تلوار به دا رد کړی او درواغ به یی وګڼی او د بی عقلو خلکو خبره به یی وګڼی ایا جایز دی یو چا دپاره ددی نه پس چی ووایی دا پراخه ابادی ځمکه،اسمان د ستورو نظام

او دا حالات او ددی دا نا اشنا څرګند نظام دا ټول پخپله پیدا دی او یا صدفه یې خالق ووهیڅ وجود ته راوړونکی نه لری؟

شرعی دلالت د الله په وجود:

ټول اسمانی کتابونه په دی غږیدلی او هغه احکام چی دی کتابونو راوړی چی هغه مشتمل دی په مصلحت د مخلوق او هغه اخبار چی دی کتابونو دکون باره کی راوړی اوواقعی دهغی ریښتینوالی ګواهی ورکوی.

دلیل دی په دی چی دا خبرونه د رب د طرفه دی او هغه قدرت لری په پیدا کولو د هغه شی چی د هغی خبر یی ورکړی.

د حس دلیلونه د الله تعالی په وجود دوه قسمه دی:

یو د هغه دوو څخه:

۱- مونږ اورو او په سترګو یی ګورو د بلونکو بلنه ورکول او دفریاد کونکو فریاد ته رسیدل دا غوښ دلیل دی د الله تعالی په وجود باندی الله تعالی فرمایلی:

(وَنُوحًا إِذْ نَادَى مِن قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ) [سورة الأنبياء: 76]

( او نوح علیه الصلات والسلام چی کله اواز وکړ مخکی ددی نه الله وایی مونږ یی اواز قبول کړی. )

او الله تعالی فرمایلی:

(إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ) [سورة الأنفال: 9]

( کله چی تاسو فریاد وکړ الله مو فریاد قبول کړ. )

صحیح بخاری کې د انس رضی الله عنه څخه نقل دی فرمایی:

( یوه بانډچی د جمعی په ورځ راغی په داسی حال کی چی نبی صلی الله علیه و سلم خطبه کوله ویی فرمایل ای د الله رسوله مال هلاک شو اولاد وږی دی مونږ د پاره الله تعالی نه دعا وغواړه ( د باران سوال وکړه ) نبی علیه السلام دواړه لاسونه اوچت کړل او دعا یی وکړه د غرونو په شان وریځ راپیدا شوه نبی علیه السلام هماغسی په ممبر وو چی باران ځما په ږیره وریده ورپسی جمعی باندی هماغه بانډچی وفرمایل یا د الله رسوله ابادۍ ړنګی شوی مالونه هلاک شو مونږ

د پاره د الله تعالی څخه دعا وغواړه نبی صلی الله علیه وسلم خپل لاسونه اوچت کړل او ویی فرمایل:

(اللهم حوَالَيْنا ولا عَلَيْنَا، فما يشير إلى ناحية إلا انفرجت)

یا الله زمونږ څخه یی واړوه په مونږ یی مه وروه اشاره به یی نه کوله یو طرف ته مګر وریځ به جدا کیدله. )

همیشه د دعاګانو قبلیدل یو بالمشاهده ثابت کار دی تر دی ورځی پوری د هغه چا دپاره چی په ریښتیا سره الله پاک ته پناه وړونکی وی او دعا په شروطو او ادابو سره وی.

دویمه وجه:

د پیغمبرانو معجزی چی چا بالمشاهده لیدلی وی او یا یی اوری دا غوځ دلیل دی په وجود د لیږدونکی ددی پیغمبرانو چی هغه الله تعالی دی ځکه دا معجزی داسی کارونه دی چی د بشر د وسعی او طاقت څخه وتلی کار دی. دا معجزی الله تعالی جاری کوی د پیغمبرانو دتایید او نصرت دپاره

ددی مثال معجزه د موسی علیه السلام کله چی الله تعالی ورته امر وکړ چی دا سمندر پخپله امسا ووهه نو په هغی کی دولس وچی لیاری جوړی شوی او د هغی په منځ کې اوبه د غرونو پشان پورته وختی الله تعالی فرمایی:

(فَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنِ اضْرِب بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ فَانفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ) [سورة الشعراء: 63]

( مونږ وحی وکړه موسی علیه السلام ته چی ووهه پخپله امسا دی دا سمندر جدا شو سمندر اوشوه هر یوه برخه د اوبو په شان د لوی غر. )

دویم مثال:

معجزه د موسی علیه السلام کله یی چی مړی ژوندی کول او د قبرونو څخه یی راویستل د الله په حکم الله تعالی د هغه باره کی فرمایلی:

(وَأُحْيِي الْمَوْتَى بِإِذْنِ اللهِ) [سورة آل عمران: 49]

( او کله چی تا مړی راویستل د الله په حکم )

دریم مثال:

د محمد صلی الله علیه وسلم معجزه کله چی قریشو دمعجزی غوښتنه ورڅخه وکړه نبی علیه السلام سپوږمی ته اشاره وکړه او هغه دوه ټوټی شوه او خلکو ولیدله دی باره الله تعالی فرمایی:

(اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانشَقَّ الْقَمَرُ * وَإِن يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ) [سورة القمر: 1-2]

( قیامت نیږدی دی او سپوږمیوچاوده که هر قسم معجزه دوی وګوري بیا هم اعراض کوی او وایی دا سحر دی محکم. )

دا محسوسی معجزی الله تعالی ښکاره کوی د خپلو پیغمبرانو د تایید د پاره او د هغوی د مدد د پاره دا غوښ دلیل دی د الله تعالی په وجود باندی.

دویم د الله تعالی په ربوبیت ایمان:معنی یی دا ده یو الله تعالی رب دی شریک او مرستندویه نه لری

رب هغه چاته وایی چی څوک پیدایش کولی شی اختیار لری او فیصلی کوی بل خالق نشته بغیر د الله

تعالی څخه اوبل مالک نشته بغیر د هغه څخه او هیڅ یو کار نشته مګر د هغه په تصرف کی دی الله تعالی فرمایی:

(أَلاَ لَهُ الْخَلْقُ وَالأَمْرُ) [سورة الأعراف: 54]

( خبردار خاص د الله تعالی د پاره دی پیدایش او خاص دهغه تصرف دی )

او فرمایلی یی دی:

(ذلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِ مَا يَمْلِكُونَ مِن قِطْمِيرٍ) [سورة فاطر: 13]

( دا ستاسو الله ستاسو پالونکی دی اختیار ټول دده دی او چی تاسو ورته راورسیږی رامدد شی وایی د الله څخه غیر هغوی د خورما د هډوکی د پاسه دهغه پردی په اندازه اختیار هم نه لری. )

هیچاپه مخلوقاتو کې د الله دربوبیت څخه انکار نه دی کړی مګر مکابر او هغه څوک چې پخپله خبره هم باورنه لري لکه فرعون دا کار کړي خپل قوم ته یې وویل

(أنَا ربّكم الأعلى) [سورة النازعات: 24]

(زه ستاسو اوچت رب يم)

ليکن دايي خپله هم نه باوروله الله تعالى فرمايلى:

(وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أنفُسُهمْ ظُلْمًا وَعلُوًّا)

[سورة النمل: 14]

(انکاريي وکړ د معجزو څخه سره د پوخ يقين د ظلم او د لويي د وجه)

موسى-عليه الصلات والسلام-فرعون ته فرمايلى وو الله تعالى يي مونږ ته حکايت کړى:

(لَقَدْ عَلمْتَ مَا أنزَلَ هَؤُلاء إلاَّ رَبّ السموات وَالأرْضِ بَصَآئرَ وَإِنِّي لأظُنُّكَ يَا فِرْعَونُ مَثْبُورًا) [سورة الإسراء: 102]

(ووېل موسى-عليه الصلات والسلام-خاماخابيشکه ته پوه يي چي نه دي نازل کړي دغه معجزې مګر رب د اسمانونو او د ځمکي دليلونه دي دپاره دښکاره کولو

دتوحید او یقینا زه ګمان کوم په تاباندې ای فرعون د هلاک کړې شوی).

ددې وجې نه مشرکانو د الله په ربوبیت اقرار کولو سره ددې چې په الوهیت کې یې ورسره شرک کولو

(قُل لِّمَنِ الأَرْضُ وَمَن فِيهَا إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ * سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ أَفَلا تَذَكَّرُونَ * قُلْ مَن رَّبُّ السموات السَّبْعِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ * سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ أَفَلا تَتَّقُونَ * قُلْ مَن بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلا يُجَارُ عَلَيْهِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ* سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ فَأَنَّى تُسْحَرُونَ) [سورة المؤمنون: 84-89] .

( ورته ووایه د چا په اختیار کې ده ځمکه او څه چې پدې ځمکه کې دی که پوهه لري خاماخا به جواب کې ووایې چې د الله په اختیار کې دي ورته ووایه ولې نصیحت نه قبلوئ؟ ورته ووایه د چا په لاس کې پاچاهي د هر شی ده؟ او دا الله پناه ورکولی شی او دده په خلاف هیڅوک پناه نشی ورکولای که پوهه لری خا ما خا به جواب کې ووایی چې دا هر څه د الله په

اختیار کې دي ورته ووایه کوم ځای دربانډي جادو وکړای شوه )

او الله تعالی فرمایي:

(وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيزُ الْعَلِيمُ) [سورة الزخرف: 9].

( که چیرته پوښتنه وکړې ددوی څخه چې چا پیدا کړي اسمانونه او ځمکه قسم دی خا ما خا ضرور دضرور به ووایي چې زورور او پوهه ذات پیدا کړي )

او الله تعالی فرمایلي:

(وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ) [سورة الزخرف: 87] .

( که ددوی څخه پوښتنه وکړې چې اسمانونه او ځمکه چا پیدا کړي قسم دی خاماخا به دوی ووایي چې الله پیدا کړي نو کوم طرف ته دوی واړولای شو د حق څخه )

د الله تعالی حکم شامل دی حکم کوني او حکم شرعي دواړو ته لکه څرنګه چی الله تعالی ددی کایناتو تدبیر کوی او د خپل حکمت دغوښتنی مطابق پکی فیصلی کوی دغه شان پکی فیصلی کوی د شریعت یعنی دعباداتو،احکامو او معاملاتو د خپل حکمت دغوښتنی مطابق.

پس هغه څوک چی د الله تعالی څخه په غیربل قانون جوړونکی او فیصلی کونکی ومنی په تحقیق سره دی انسان د الله تعالی سره شرک وکړ او صحیح ایمان یی ثابت نه کړ .

دریم د الله په الوهیت باندی ایمان:

معنی دا ده یواځی الله تعالی د عبادت حق لری او هیڅوک ورسره دی حق کی برخی والا نشته ( الا له ) د مألوه په معنی دی مألوه هغه چا ته ویل کیږی چی د هغه عبادت مینی او تعظیم سره سره کیږی یعنی هغه ورته لوی ښکاری او مینه ورسره لری. الله تعالی فرمایلی:

(وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لاَّ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ) [سورة البقرة: 163]

( عبادت کړی شوی په حقه ستاسو د پاره عبادت کړی شوی یو دی نشته ستا سودپاره مستحق دعبادت مګر دغه ډیر او همیشه مهربان الله دی )

او الله تعالی فرمايلی:

(شَهِدَ اللّهُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُواْ الْعِلْمِ قَآئِمَاً بِالْقِسْطِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ) [سورة آل عمران: 18]

( ګواهی کوی الله تعالی یقینا دغه الله نشته لایق دعبادت مګر هم دغه الله دی او ملائک او د علم خاوندان هم داسی ګواهی کوی پداسی حال کی چی ادا ګواهی په انصاف ولاړه ده نشته لایق د عبادت مګر الله چی زورور او حکمتونو والا دی )

هر هغه شی چی په الوهیت ونیول شی د الله تعالی سره او عبادت یی کیدای شی د هغه بغیر د الله څخه نو ددغه شی الوهیت باطل دی.الله تعالی فرمایی:

(ذلكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ من دُونه هُوَ الْبَاطِلُ وَأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ) [سورة الحج: 62]

( دا په سبب ددی چی یقینا الله تعالی یواځی دده عبادت کول حق دی او یقینا هغه الهه باطله چی د الله نه بغیر یی عبادت کیږی هغه باطل دی او یقینا دغه اوچت دی او لوی دی )

تش نوم ورکول په الهه سره د عبادت روا کولو حق نه ورکوی. الله تعالی د لات، عزی او منات په باره کی فرمایلی:

(إِنْ هِيَ إِلا أَسْمَاء سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَاؤُكُم مَّا أَنزَلَ اللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ) [سورة النجم: 23]

نه دی دا مګر تش نومونه دی چی تاسو او ستاسو مشرانو ورکړی،الله تعالی په دی هیڅ دلیل نه دی رالیږلی )

د هود-علیه السلام- باره کی الله تعالی فرمایلی چی خپل قوم ته یی ویلی ؤو:

(أَتُجَادِلُونَنِي فِي أَسْمَاء سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَآؤكُم مَّا نَزَّلَ اللّهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ) [سورة الأعراف: 71]

( ايا تاسو ما سره جګړې کوئ په هغه نومونو کې چې تاسو، او ستاسو مشرانو ورته ايښې الله تعالی وربانديې هيڅ دليل نه دی رالیږلی )

ديوسف عليه السلام باره کی الله تعالی فرمايلی بيشکه يوسف عليه السلام هغه خپلو دوو ملګرو ته فرمايلی ؤو:

(أَأَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ * مَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِهِ إِلاَّ أَسْمَاء سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَآؤُكُم مَّا أَنزَلَ اللّهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ) [سورة يوسف: 39، 40]

( ايا ګڼ الهه بهتر دی او که يو الله زورور تاسو عبادت نه کوئ بغير د الله څخه مګر د تش نومونو چې تاسو او ستاسو مشرانو ورته ايښې الله تعالی وربانديې هيڅ دليل نه دی رالیږلی )

ددې وجې نه ټولو پيغمبرانو خپلو قومونو ته داسې وينا کړې ده

(اعْبُدُواْ اللّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ) [سورة الأعراف: 59]

( د یو الله عبادت کوئ نشته ستاسو د پاره بغیر د الله ځخه بل لایق د عبادت )

لیکن مشرکانو انکار کړی ؤو او د الله ځخه بغیر نور الهه باطله یی نیولی ؤو او عبادت یی ورته کاوه او مدد یی ورځخه غوښته او فریاد یی ورته کاوه په سختیو کی په تحقیق سره الله تعالی ددغه مشرکانو دا الهه باطله چې د الله سره یی نیولی ؤو په دوه عقلی دلایلو باطلوی:

اول دلیل: دغه آلهه باطله چې دی مشرکانو د الله تعالی سره نیولی ؤو پدی کی د الوهیت صفات نشته دا پخپله مخلوق دی پیدا کول نشی کولای ځوک چې ورته عبادت کوی هغوی ته څه فائده نشی رسولای او د هغوی ځخه څه ضرر لیری کولای نشی مالکان نه دی د مرګ او ژوند او د دوباره ژوندی کولو ) الله تعالی فرمایلی

(وَاتَّخَذُوا من دُونه آلهَةً لا يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ وَلا يَمْلكُونَ لأنفُسهِمْ ضَرًّا وَلا نَفْعًا وَلا يَمْلكُونَ مَوْتًا وَلا حَيَاةً وَلا نُشُورًا) [سورة الفرقان: 3]

(ورته وواپه راوبلئ هغه الهه باطله چې تاسو ورباندى ګمان كاوه د الله نه بغير اختيار نه لرى د ذرى په مقدار نه په اسمانونو کی او نه په ځمکه کی څه برخه لرى )

اوالله تعالى فرمايلى:

(قُل ادْعُوا الَّذينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ لا يَمْلكُونَ مثْقَالَ ذرَّة فِي السَّمَوَاتِ وَلا فِي الأَرْضِ وَمَا لَهُمْ فيهِمَا من شرْك وَمَا لَهُ منْهُم مِّن ظَهِيرٍ * وَلا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ عندَهُ إِلا لمَنْ أَذنَ لَهُ) [سورة سبأ: 22، 23]

(وواپه راوبلئ هغه كسان چې تاسووربانديِ ګمان كوىء د الهه و،په غير د الله نه دوي واک نلرى دزرې په مقدار نه په اسمانونوکې او نه په ځمکه کې، اونشته ددوې دپاره په ځمکه اواسمانونوکې څه برخه اونشته دالله تعالى سره ددوي دطرفه څوک مرسته كوونکې).

او الله تعالی فرمایلی

(أَيُشْرِكُونَ مَا لاَ يَخْلُقُ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ * وَلاَ يَسْتَطِيعُونَ لَهُمْ نَصْرًا وَلاَ أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ) [سورة الأعراف: 191، 192]

( ایا دوی د الله تعالی سره داسی شی شریکوی چی هیڅ شی نه شی پیدا کولای بلکه دوی پخپله مخلوق دی او توان نه لری چی ددوی مدد وکړی او نه د خپل ځان مدد کولی شی )

هر کله چی ددی الهه باطلو دا حال دی او بیا یی هم څوک عبادت کوی په کم عقلو کی غټ کم عقل دی او په باطل پرستو کی غټ باطل پرست دی .

دویم: مشرکانو ددی خبری اقرار کولو چی الله یواځی رب دی خالق دی پاچاهی دده په لاس کی ده دا الله پناه ورکولای شی او دده په خلاف هیچا ته څوک پناه نشی ورکولای ددی خبری د لوازماتو څخه دا هم وه چی څنګه یی په ربوبیت کی یو ګنی شریک ورسره نه منی پکار وه دغه شان چی په الوهیت کی هم ورسره شریک نه وای جوړ کړی.الله تعالی فرمایلی

(يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ * الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الأَرْضَ فِرَاشاً وَالسَّمَاء بِنَاء وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاء مَاء فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقاً لَّكُمْ فَلاَ تَجْعَلُواْ لِلّهِ أَندَاداً وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ) [سورة البقرة: 21، 22]

( ای ټولو خلکو د خپل رب عبادت وکړئ هغه رب چی تاسو یی پیدا کړی یاست د ستاسو څخه مخکی یی هم پیدا کړی ددی دپاره چی ځان وژغورئ د الله د عذاب څخه،هغه رب چی ځمکه یی فرش ګرځولې، اسمان یی چت ګرځولی،د اسمان څخه اوبه راوروی د اوبو په سبب قسم قسم میوی راوباسی دپاره د خوراک ستاسو پس مه نیسئ د الله تعالی سره شریکان او تاسو پوهیږی چی دا کارونه یواځی الله کوی )

او فرمایلی یی دی

(وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ) [سورة الزخرف: 87]

( که چیری ته ددوی څخه پوښتنه وکړی چی دا مخلوقات چا پیدا کړی قسم دی هرومرو به دوی

ووايي چي الله پيدا کړی پس کوم طرف ته واړولای شو)

او الله تعالى فرمايلي

(قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ السَّمْعَ والأَبْصَارَ وَمَن يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيَّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ الأَمْرَ فَسَيَقُولُونَ اللّهُ فَقُلْ أَفَلاَ تَتَّقُونَ * فَذَلِكُمُ اللّهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ فَمَاذا بَعْدَ الْحَقِّ إِلاَّ الضَّلاَلُ فَأَنَّى تُصْرَفُونَ) [سورة يونس: 31، 32]

( ورته ووايه څوک روزی درکوی د اسمان او ځمکی څخه او څوک اختيارمند دی د غوږو او سترګو او څوک راوباسی ژوندی د مړی څخه او مړی د ژوندی څخه او څوک تدبير کوی د کار په خورا تاکيد سره به دوی ووايي چی دا ټول کارونه يو الله کوی،ته ورته ووايه ايا تاسود شرک الوهيت څخه ځان نه ژغوری ددی کارونو کونکی ستاسو د پاره يو الله دی ستاسو پالونکی دی په حقه پس نشته وروسته د حق څخه مګر ګمراهی کوم طرف ته واړولای شوی )

څلورم: د الله تعالی په نومونو او د هغه په صفتونو باندې ایمان:

هغه نومونه او صفتونه چې الله تعالی خپل ځان ته پخپل کتاب کې ثابت کړي وي او یا د هغه رسول صلی الله علیه وسلم په حدیثو کې هغه ته ثابت کړي وي ادا نومونه او صفتونه الله تعالی ته ثابتول څرنګه چې د هغه د شان سره لایق او مناسب وي بغیر د تحریف او تعطیل څخه او بغیر د تکییف او تمثیل څخه الله تعالی فرمایلي:

(وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا وَذَرُوا الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَائِهِ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ) [سورة الأعراف: 180]

( د الله تعالی د پاره ښایسته نومونه دي په هغې يې رابلئ او پریږدئ هغه کسان چې د الله په نومونو کې کجروي کوي ژر دی چې دوی ته د خپلو بدو عملونو جزاء ورکړای شي. )

او الله تعالی فرمایلی:

(لَيسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ) [سورة الشورى: 11]

( د الله مثال نشته او الله اوریدونکی لیدونکی دی )

په دغه عقیده کی دوه طائفی بی لیاری شوی:

لمړی طائفه: ( المعطله ) دا هغه خلک دی چی د الله تعالی د نومونو او صفتونو څخه منکر دی او یا د ځنی نومونو او صفتونو څخه منکر دی پدی ګمان که چیری مونږ الله تعالی لره دغه نومونه یا صفتونه ثابت کړو بیا به تشبیه لازم شی یعنی الله تعالی به د مخلوق سره مشابه ( ورته ) شی.دا ګمان باطل دی دځو وجو نه چی ځینی یې په لاندی ډول دی:

اوله وجه: دا ګمان مشتمل دی په باطلو لوازماتو باندی لکه تناقض ( ټکر ) د الله تعالی په کلام کی هغه پدی طریقه الله تعالی خپل ځان د پاره نومونه او صفتونه ثابت کړی او مثل یی د ځان څخه نفی کړی یعنی هیڅ شی الله لره مثل نشی کیدای اوس که چیری اثبات

دنومونو او صفتونو مستلزم شی تشبیه لره نو بیا خو د الله په کلام کی تناقض لازمیږی او بیا خو د الله تعالی کلام ځینی ځینو نورو ته نسبت د درواغو کوی.

دویمه وجه: ددوه شیانو ورته والی په نوم یا صفت کی ددی څخه دا نه لازمیږی چی دا دواړه دی ټول په ټوله یو د بل په شان شی مثال دوه کسان دی دواړه انسانان دی اوریدل کوی،لیدل کوی،خبری کوی ددی څخه دا لازمه نه شوه چی دا دواړه دی په انسانی معانیو کی په اوریدلو کی،لیدلو کی،خبرو کولو کی ټول په ټوله یو شان شي او همدا شان حیواناتو ته ګوره د هغوی دپاره لاسونه دی،پښی دی او سترګی دی ددی څخه دا نه لازمیږی چی دوی په دغه اعضاو کی متفق دی نو ټول په ټوله ددوی لاسونه،پښی او سترګی دی یو شانته شی.

هرکله چي ښکاره شو جدا والی د مخلوقاتو په مینځ کی په هغه نومونو او صفتونو کی چی دوی یکی متفق دی نو دا جداوالی خو د خالق او د مخلوق په مینځ کی ډیر واضح دی او ډیر لوی دی.

دویمه طائفه: المشبهه: دا هغه ډله ده چی الله تعالی لره نومونه او صفتونه ثابتوی پداسی طریقه چی الله تعالی د مخلوق سره مشابه کوی ګمان کوی چی دنصوصو د دلالت غوښتنه همداسی ده ځکه الله تعالی د بندګانو سره په هغه څه خطاب کوی چی بندګان ورباندی پوه شی.دا ګمان باطل دی په څو وجوهو سره چی ځینی یی دا دی:

اوله وجه: د الله تعالی مشابهت د مخلوق سره دا پخپله یو باطل کار دی عقل او شریعت دواړه ورته باطل وایی او دا امکان نه لری چی د قرآن او حدیث نصوص دی د یو باطل کار غوښتنه وکړی.

دویمه وجه: الله تعالی د بندګانو سره خطاب کوی په هغه څه چی دوی ورباندی پوه شی په اعتبار د اصلی معنی هر چی حقیقت د معنی دی هغه الله تعالی پخپل علم کی پټ ساتلی په هغه مسائلو کی کوم چی د الله تعالی دذات او صفاتو سره تړاو لری.کله چی الله تعالی د خپل ځان د پاره اوریدل ثابت کړل چی الله اوری نو اوریدل د معنی په اعتبار سره معلوم دی چی

هغه د آوازونو راګیرول دی لیکن حقیقت د اوریدلو چی نسبت یی وشی الله تعالی ته دا بنده ګانو ته معلوم نه دی ځکه حقیقت د اوریدلو  د هر چا جدا جدا دی تردی چی په مخلوقاتو کی هم دا حقیقت فرق لری پس جداوالی په دغه حقیقت کی په مینځ د خالق او د مخلوق کی خو را زیات څرګند دی او خورا زیات لوی دی.کله چی الله تعالی خبر ورکړ د خپل ځان باره کی چی د عرش د پاسه دی استوی ( د اصلی معنی په اعتبار سره معلومه ده لیکن حقیقت د استوی هغه استوی چی الله کړیده هغه معلومه نه ده په نسبت دالله تعالی په عرش باندی ځکه حقیقت د استوی دمخلوق په حق کی هم جدا جدا دی.په یو مضبوطه چوکی باندی استوی کول او دیو مست نفرت کونکی اوښ په پالان باندی استوی کول یو شانته نه دی نو هر کله چی د مخلوق په مینځ کی استوی کول یو شانته یو حقیقت نه لری نو جدا والی د استوی په مینځ د خالق او دمخلوق کی خورا زیات څرګند دی او خورا زیات لوی دی.

په الله تعالی ایمان راوړل پدغه طریقه چې مونږ یې بیان وکړ د مؤمنانو د پاره ګټورې فائدې لري چې ځینې دهغې څخه دادي:

لمړې فائده: د الله تعالی یووالې به ورته ثابت شي پداسې طریقه چې د بل چا څخه به امید نه ساتې او د بل چا څخه به ویریږي نه او د بل چا عبادت به نه کوي.

دویمه فائده: د الله تعالی سره به یې پوره مینه پیدا شي او د هغه لویې به ورمعلومه شي،دهغه د شایسته نومونو او وچتو صفتونو د غوښتنې مطابق.

دریمه فائده: الله تعالی لره به خپله بندګي ثابته کړي په کولو دهغه څه چې الله تعالی ورباندې امر کړې او په نه کولو د هغه څه چې الله تعالی ورڅخه ژغورنه کړې.

په ملائکو باندې ایمان:

ملائک د الله تعالی یو غیبي مخلوق دې د الله تعالی بندګي کوي د ربوبیت او د الوهیت هیڅ شی دوی سره

نشته. الله تعالى ددوی پيدايش دنور څخه کړی الله تعالى د خپل امر د پوره تابعدارۍ پيرزوينه ورباندی کړی او د هغه د امر پرځای کولو طاقت يې ورکړی.الله تعالى فرمايي:

(وَمَنْ عِندَهُ لا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَلا يَسْتَحْسِرُونَ * يُسَبِّحُونَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لا يَفْتُرُونَ) [سورة الأنبياء: 19، 20]

(او هغه ملائک چې د الله تعالى سره دی الله تعالى ته د بندګۍ کولو څخه ځان لوی نه ګڼي او نه ستړی کيږی شپه او ورځ د الله پاکی وايي او نه سستيږی).

ملايک بی حده ډيردی شميره يې هيچاته نه ده معلومه په غيرالله تعالى څخه بخاری اومسلم کې دانس-رضی الله عنه-په روايت دمعراج په قصه کې حديث راغلیأن النبي صلى الله عليه وسلم رُفع له البيت المعمور في السماء، يُصلِّي فيه كلَّ يوم سبعون ألف ملك، إذا خرجوا لم يعودوا إليه آخر ما عليهم.

(بیشکه نبی- صلی الله علیه وسلم - ته بیت معموروښودلی شوه اویازره ملایک په کي هره ورځ لمونځ کوي بیادی ملایکوته نوبت نه رسیږي ترقیامته پوری).

په ملایکو ایمان جوړول دڅلورو شیانو منلو ته اړین دی:

۱= دملایکوپه وجودایمان لرل چي ملایک شته.

۲= دهغه ملایکوپه نوم باندی ایمان لرل دکوموچي مونږته په شریعت کي نوم معلوم دی لکه جبریل اودکوموچي نوم نه دی رامعلوم هغوي باندی اجمالي ایمان ضروري دی.

۳= دملایکوچي کوم صفتونه مونږته په شریعت کي معلوم وي په هغي ایمان لرل لکه دجبریل باره کي نبی-صلی الله علیه وسلم-خبرورکړی چي په هغه خپل اصلي شکل په کوم چي دهغه پیدایش شوی لیدلی ووشپږسوه وزرې یي درلودلي اوټولي کنارې داسمان یي بندی کړی وي.

اوملایک دسړي په شکل هم ځان جوړولی شی دالله په حکم سره لکه داسی دجبریل دطرفه شوی کوم وخت چي الله تعالی مریم-علیها السلام-ته لیږلی وو

(فتمثَّل لها بشرًا سويًّا) دیو برابر انسان په شکل یي هغي ته ځان جوړکړ.

اوکله چي نبی- صلی الله علیه وسلم-ته راغلی وو په داسی حال کي چي دخپلو ملګرو سره ناست وو د داسی یوسړی په صفت چي تکی سپینی جامی یي وي او تک تور ویښتان یي وو، دسفر اثار ور باندی نه لیدل کیده، هیچا هغه لره نه پیژنده ،خپل ځنګنونه یي دنبی-صلی الله علیه وسلم-دځنګنونو سره ولګول اوخپل لاسونه یي په خپلو ورنونو کیښودل (دتحیات په شکل او دنبی-صلی الله علیه وسلم - څخه یي

داسلام،ایمان،احسان،قیامت،اودهغي د نښو په باره کي پوښتني وکړي، نبی-صلی الله علیه وسلم-ورته جوابونه ورکړل او ولاړ. همدا رنګه هغه ملایک چي الله تعالی ابراهیم، لوط-علیهماالسلام-ته لیږلي وو هغوي هم دسړو په شکل کي وو.

۴= ددوي په عملونو باندی ایمان لرل هغه عملونه چې دوی يې اجراء کوي دالله تعالی په حکم لکه دالله تعالی پاکي ویل شپه او ورځ د الله تعالی عبادت اوبنده ګي کول بی له کومی ستړیا اوسستۍ څخه.

او ډیر کرتی دبعضی ملایکو دپاره خاص کارونه وي: مثلاجبریل الله تعالی د وحی په استولو امین ګرځولی دالله تعالی پیغامات دهغه دطرفه پیغمبرانو ته رسوي.

میکایل ده ته دباران او شینکیو کار سپارلی شوی. اسرافیل دشپیلۍ په وهلو موظف شوی دقیامت راوستلو په وخت کې او د مخلوقاتو دوباره ژوندی کولو په وخت کې. ملک الموت دمرګ په وخت کې د روحونو په اخستلو مکلف دی. مالک دجهنم د اور څوکیدار دی. او هغه ملایک چه په رحمونو کې به نطفو موظف شوی کله چې دیو انسان د مور په خیټه کې څلور میاشتی پوره شی الله تعالی یو ملایک ورولیږي او د څلورو شیانو د لیکلو حکم ورته وکړي: رزق، عمل، اجل، نیک بخت یا بدبخت. هغه ملایک چې دبنده ګانو دعملونو دلیکلو وظیفه ورکړل شوی

دهر انسان سره دوه ملايک دي يوه يي ښي طرف باندی ده او بله چپ طرف باندی. هغه ملايک چي كله قبركي مړى كيښودل شي دهغوي څخه دپوښتنى كولو وظيفه ورسپارل شوى: دوه ملايک ورته راشي او پوښتنه ورڅخه كوي درب په باره كي او د دين په باره كي او د نبى په باره كي.

په ملايكو باندی ايمان لرل ډيرې ګټورې فائدې لري:

لمړی: دالله تعالى لويي قدرت، پاچاهي انسان ته معلومه شي ځكه دمخلوق لويوالى دا د خالق لويوالى دى.

دويمه: دالله تعالى شكركول پدى خبره چي دبنى ادم يي دومره لحاظ كړى چي په دوي يي ملايک درولي ددوي او د دوي دعملونو ساتنه كوي او دنورو ګڼو خيرخواهى وو دپاره.

دريمه: كله چي دا ملايک د الله تعالى دومره فرمانبردار مخلوق دى په دى وجه ددوي سره مينه پيدا شى.

په تحقيق سره ځينو د کږو زړونو والا د ملايکو د جسم څخه انکار کړيدی او وايي ملايک په مخلوقاتو کي د ننه پټ د خير قوتونه دي. دا په حقيقت کي دقران، حديث، او دمسلمانانو اجماع ته د درواغو نسبت کول دي.

الله تعالی فرمايي: (الْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ جَاعِلِ الْمَلائِكَةِ رُسُلاً أُولِي أَجْنِحَةٍ مَّثْنَى وَثُلاثَ وَرُبَاعَ) [سورة فاطر: 1]

(ټول د الوهيت صفتونه خاص الله هغه ذات لره دي چي پيدا کوونکی د اسمانونو او د ځمکي دی او ملايک يي استازي ګرځولي داسی ملايک چي د وزرو والا دی دوه دوه دري دري او څلور څلور)

اوالله تعالی فرمايلی: (وَلَوْ تَرَى إِذْ يَتَوَفَّى الَّذِينَ كَفَرُواْ الْمَلآئِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ) [سورة الأنفال: 50]

(که ليدلی وی تاکله چي روحونه اخلي ملايک د کافرانو

څخه اووهی يي په مخونواوشاګانوباندی).

اوفرمايلى يي دي: (وَلَوْ تَرَى إِذِ الظَّالِمُونَ فِي غَمَرَاتِ الْمَوْتِ وَالْمَلآئِكَةُ بَاسِطُواْ أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُواْ أَنفُسَكُمُ) [سورة الأنعام: 93]

(كه ليدلى وى تاكله چې داظالمان دمرګ په سختيوكې وي اوملايكوورته خپل لاسونه اوږده كړي وي اودرته‌ني دپاره ورته وايي راوباسى دانفسونه مو).

اوفرمايي: (حَتَّى إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمْ قَالُوا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ قَالُوا الْحَقَّ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ) [سورة سبأ: 23]

(تردى پورى كله چې ددوي دزړونوڅخه هيبت ليرى شى وايي ستاسورب څه فرمان صادركړ؟جواب كې ووايي حق يې وويل اوالله اوچت اولوي دى).

دجنتیانوباره کې راغلی:

(وَالْمَلَائِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ * سَلَامٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ) [سورة الرعد: 23، 24]

(اوملایک ورداخلیږي په دی جنتیانودهري دروازي څخه اوورته وایي سلامتیادی وی په تاسوپه دی وجه چې تاسوصبرکړی اوښه انجام دی دکورپه لحاظ).

صحیح بخاری کې دابوهریره-رضی الله عنه-څخه رروایت دی هغه دنبی-صلی الله علیه وسلم-څخه روایت کوي نبی-صلی الله علیه وسلم-فرمایلی:

(إذا أحب الله العبد نادى جبريل: إن الله يحبُّ فلانًا فأحببه؛ فيحبّه جبريل، فينادي جبريل في أهل السماء: إنَّ الله يحـ ـب فلاناً فأحبّوه؛ فيحبه أهل السماء، ثم يوضع له القبول في الأرض)

(کله چې الله تعالی دیوبنده سره مینه وکړي جبریل ته اوازوکړي بیشکه الله تعالی دفلانی سره مینه کوي ته هم ورسره مینه وکړه ،جبریل ورسره مینه وکړي بیاجبریل اسمان والاوته اوازوکړي بیشکه الله تعالی

دفلاني سره مینه کړیده تاسوهم ورسه مینه وکړئ،داسمان والاورسره مینه وکړي بیاده دپاره په ځمکه کې هم دافرمان ومنلی شي).

په صحیح بخاري کې دهمدی ابوهریره-رضی الله عنه-څخه روایت دی ابوهریره وایې چې نبی ـصلی الله علیه وسلم ـ فرمایلي:

(إذا كان يوم الجمعة كان على كل باب من أبواب المسجد الملائكة يكتبون الأول فالأول، فإذا جلس الإمام؛ طووا الصحف، وجاءوا يستمعون الذكر)

(کله چې دجمعې ورځ شي دمسجد په هره دروازه کې ملایک ودریږي دشمیري په ترتیب سه راتلونکي لیکي کله چې امام کښیني (خطبه شروع کړي) هغوی خپلي دفتري راټولي کړي بیا راشي خطبی ته غوږ ونیسي).

دادقران اودحدیثو دلایل خورارو‌ښانه دي په دی خبره کې چې ملایک جسم لري او دا یو معنوی طاقت نه دی لکه ښنګه چې هغه د کږو زږونو والا ویلی دي. ددی دلایلو د غوښتني په بنا مسلمانانو اجماع کړی ده.

په کتابونو ایمان لرل:

کتب دکتاب جمع ده په معنی دلیکلی شوی، دلته دکتابونو څخه هغه کتابونه مراد دي کوم چې الله تعالی په خپلو پیغمبرانو نازل کړي، د مخلوق دلار ښوونې دپاره او په هغوي باندی رحم کولو دپاره او د دی دپاره چې مخلوق د دنیا او د اخرت نیکمرغۍ ته ورسیږي.

په کتابونو باندي ایمان راوړل څلورو شیانوته اړین دی:

۱:- په دی خبره ایمان چې ددی کتابونو راتلل د الله تعالی دطرفه ریښتیا دي.

۲:- ددي په نوم باندی ایمان لرل که مونږ ته يي نوم معلوم وي لکه قران په محمد-صلی الله علیه وسلم- نازل شوی، تورات په موسی -علیه الصلاة والسلام- نازل شوی، انجیل په عیسی-علیه السلام-نازل شوی، زبور داوود-علیه السلام ته ورکړل شوی او د کوم چې راته نوم نه دی معلوم په هغي به اجمالی ایمان لرو.

۳:- دی کتابونو چې دکوم شی خبرورکړی دهغي تصديق کول لکه دقران اخبار او دمخکينو کتابونو اخبار چې تحريف او بدلون په کې نه وی شوی.

۴:-هغه احکام چې منسوخ نه وي په هغې عمل کول،اوپه هغې خوشحالي کول اوهغې ته غاړه ايښودل که په حکمت یې پوهیږو او که نه پوهیږو ټول مخکني کتابونه منسوخ شوي په قران عظیم شان سره، الله تعالی فرمایلی:

(وَأنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ) [سورة المائدة: 48]

(مونږ رالیږلی تاته کتاب ای پیغمبره دپاره دښکاره کولو دحق په داسی حال کې چې تصدیق کوونکی دی دهغه کتابونو چې ددی څخه مخکی دي اودهغی دپاره ساتونکی دی)

یعنی په هغی فیصله کوونکی دی. بنا پر دی دمخکینو کتابونو په هیڅ یوحکم عمل کول روانه دی مګر هغه چې صحیح وي اوقران ور باندی تقریر کړی وي.

په کتابونوباندې ایمان خورا ګټورې فائدې لري څیني دهغې څخه:

۱:- په دی خبره پوهیدل چې الله تعالی د خپلوبنده ګانوڅومره لحاظ ساتلی چې د هر قوم دلار ښوونې دپاره یې هغوې ته کتاب رالیږلی.

۲:- په دی خبره پوهیدل چې دالله تعالی په دی خپل شریعت کې څومره حکمتونه دي، چې دهر قوم دحالاتو مطابق احکام رالیږي.

الله تعالی فرمایلی:

(لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا) [سورة المائدة: 48]

(دهریو قوم دپاره مونږ د هغوې د احوالو سره مناسب شریعت اوپلنی پلنی تګ لیارې ګرځولي).

۳:- په دی ټولو کې د الله تعالی دنعمتونو شکر کول.

په پیغمبرانو ایمان لرل:

رسل جمع درسول ده په معنی دلیږلی شوې یعنی دیوشی په رسولولیږلی شوی.دلته ورڅخه مرادهغه انسان دی چې وحې ورته شوی وی دیوشریعت اودهغې درسولوحکم ورته شوی وی.

لمړی پیغمبر نوح -علیه السلام-دی او روستی پیغمبرمحمد-صلی الله علیه وسلم-دی. الله تعالی فرمایلی:

(إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَى نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ) [سورة النساء: 163]

(بیشکه مونږه تاته وحی کړی لکه څنګه موچې نوح-علیه السلام-ته وحی کړې وه اودهغه څخه مووروسته نوروپیغمبرانوته کړې وه).

صحیح بخاری کې دانس-رضی الله عنه-څخه روایت کې دسفارش په باره کې چې کوم حدیث راغلی:

(ذكر أن الناس يأتون إلى آدم؛ ليشفع لهم، فيعتذر إليهم ويقول: ائتوا نوحًا أول رسولٍ بعثه الله)

(بیشکه نبی-صلی الله علیه وسلم-ددی خبری یاداشت وکړچې ادم –علیه الصلات والسلام-ته به خلک راشي چې زمونږ دپاره سفارش وکړه هغه به عذر وړاندی کړي اووبه وایې چې نوح علیه الصلات والسلام- ته ورشئ هغه کس دی چې الله لمړی پیغمبرلیږلی،ټول حدیث یې بیان کړی).

اوالله تعالی دمحمد-صلی الله علیه وسلم-په هکله فرمایلی:

(مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ) [سورة الأحزاب]

(نه دی محمد-صلی الله علیه وسلم-په تاسوکې دهیڅ یوسړی پلارلیکن دالله پیغمبردی اوپه ده پیغمبري پای ته رسیدلی).

نه دی خالی یو امت د یو پیغمبر څخه چې لیږلی وی الله تعالی دغه پیغمبرلره په یومستقل شریعت باندی دی قوم ته اونه هیڅ نبی چې وحی دی شوی وی دی نبی ته په یو شریعت مخکې دمحمد-صلی الله علیه

وسلم-څخه ددې دپاره چې دغه رسول يا نبی را تازه کړي دغه شريعت لره.الله تعالی فرمايي:

(وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُواْ اللهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ) [سورة النحل: 36]

(قسم دی خاماخاپه تحقيق سره ليږلی مونږهرامت ته پيغمبر،اوداخبره يې ورته کړی چې ديوالله عبادت وکړئ اودغيرالله دبنده ګۍ څخه ځان وژغورې).

اوفرمايلی يې دي: (وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلا خلا فِيهَا نَذِيرٌ) [سورة فاطر: 36]

(نه دی هيڅ يوامت مګرتيرشوی په هغې کې يو بيروونکی).

اوفرمايلی يې دی (إِنَّا أَنزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّونَ الَّذِينَ أَسْلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ) [سورة المائدة: 44]

(بيشکه مونږتورات نازل کړی په هغي کې هدايت اورڼاره وه فيصلی به کولي په تورات باندی هغه

پیغمبرانو چې پوره غاړه ایښودونکي وو الله ته یعني فیصلې به یې کولې دیهودودپاره).

پیغمبران مخلوق دی انسانان دي دربوبیت یاادالوهیت څه شی ورته ثابت نه دی ،الله تعالی دخپل نبی محمد-صلی الله علیه وسلم- په باره کې فرمایلی چې ادا دپیغمبرانو سردار دی او دده شان د الله تعالی په نیزپه ټولوکې اوچت دی:

(قُل لاَّ أَمْلكُ لنَفْسي نَفْعًا وَلاَ ضَرًّا إلاَّ مَا شَاء اللهُ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لاَسْتَكْثَرْتُ منَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنيَ السُّوءُ إِنْ أَنَاْ إِلاَّ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِّقَوْمِ يُؤْمِنُونَ) [سورة الأعراف: 188]

(ووايه زه اختيار نه لرم دځان دپاره د فائدې جلبولو او نه دضرر دفع کولو مګر هغه څه چې الله تعالی يې وغواړی زما د پاره که چيری زه په پټو رازونو پوهيدلای هر ومرو به ما دخپل

ځان دپاره فائده زياته کړی وای او ماته به هيڅ تکليف نه وی رسيدلی، زه نه يم مګر يروونکې منکرينوته او

زیری ورکوونکي منونکو ته دهغه قوم دپاره چي باورکوي).

اوالله تعالی فرمایلی: (قُلْ إِنِّي لا أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلا رَشَدًا * قُلْ إِنِّي لَن يُجِيرَنِي مِنَ اللَّهِ أَحَدٌ وَلَنْ أَجِدَ مِن دُونِهِ مُلْتَحَدًا) [سورة الجن: 21، 22]

(ووایه بیشکه زه اختیارنه لرم ستاسو دپاره دضرر دفع کولو یا د هدایت کولو ووایه بیشکه هیچیری ماته پناهي نه شی راکولای دالله په مقابل کي هیڅوک او هیچیری زه نه شم پیدا کولای په غیر د الله څخه بل ځای دپناه نیولو).

او دا پیغمبران هغه څه احساسوی کوم څه چي عام انسانان احساسوی لکه ناروغتیا، مرګ، او د خوراک او څښاک ضرورت او داسی نور. الله تعالی دابراهیم-علیه الصلات والسلام-باره کي فرمایلی کله چي هغه دخپل رب ستاینه کړی:

(وَالَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ * وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ * وَالَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحْيِينِ) [سورة الشعراء: 79، 81]

(الله هغه ذات دی ماته خوراک اوڅښاک راکوي، اوچې کله مريض شم هغه مې روغوي اوهغه ذات دی چې مرګ راباندی راولي اودوباره ژوند).

او په تحقيق سره الله تعالى د دوي صفت کړی دی په بنده ګی کولوکې الله لره په هغه اوچتو ځايونو د دوي او په دوی باندی دثنا په جريان کې.

الله تعالى دنوح عليه الصلات والسلام- باره کې فرمايلی: (إِنَّهُ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا) [سورة الإسراء: 3]

(يقينا نوح-عليه السلام-شکرګزار بنده وو)

دمحمد-صلى الله عليه وسلم-باره کې يې فرمايلی:

(تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا) [سورة الفرقان: 1] (دبرکت والا هغه ذات دی چې په خپل بنده يې داسی کتاب نازل کړی چې دحق اوباطل په مينځ کې جدايې راولي دی دپاره چې دمخلوقاتودپاره يره وونکې شي).

او د ابراهيم، اسحاق، يعقوب،-عليهم الصلات والسلام- باره کې يې فرمايلي:

(وَاذْكُرْ عِبَادَنَا إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَقَ وَيَعْقُوبَ أُوْلِي الأَيْدِي وَ الأَبْصَارِ * إِنَّا أَخْلَصْنَاهُم بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ *
وَإِنَّهُمْ عِندَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الأَخْيَارِ) [سورة ص: 45، 47]

(يادکړه بنده ګان زماابراهيم، اسحق او يعقوب خاوندان دقوت وو په طاعت کې او خاوندان دبصيرت وويه دين اوعلم کې اوماخاص کړی وو دوی لره په داسې خصلت چې هيڅ ګډون ورسره نه وو اوهغه خصلت خالصه دادی چې هميشه دوی اخرت يادوي اوبيشکه دوی زمونږ په نيزخاماخا دصفت کړای شوی اود غوره خلکو څخه وو).

او د عيسی زوی دمريم-عليهماالصلات والسلام-باره کې يې فرمايلي:

(إِنْ هُوَ إِلاَّ عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنَاهُ مَثَلاً لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ) [سورة الزخرف: 59]

(نه وو عیسی مگر یو بنده وو مونږ ور باندی انعام کړی وو او گرځولی وو مونږ هغه یوه نمونه دبنی اسراییلو دپاره).

پیغمبرانوباندې ایمان لرل مشتمل دی په څلوروکارونو:

1-په دی خبره ایمان چې دوې دالله دطرفه حق پیغمبران وو چا چې دیوه د پیغمبری څخه انکار وکړ بیشکه ده د ټولو پیغمبرانو څخه انکار وکړ لکه الله تعالی فرمایلی: (كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ الْمُرْسَلِينَ) [سورة الشعراء: 105]

(نسبت ددرواغوکړی وودوی ټولوپیغمبرانوته)

الله تعالی دوې ټولوپیغمبرانوته ددرواغوپه نسبت کولوسره یادکړي اوحال داچې په دغه وخت کې هیڅ کوم بل پیغمبروجود نه درلوده .بنا پر دی نصاری هغه خلک دي چې محمد-صلی الله علیه وسلم-ته یې نسبت د درواغو کړی او د هغه تابعداری یې نه ده کړي نودوي نسبت ددرواغومسیح زوی دمریم ته هم وکړ او همدا رنګه د هغه تابعداری یې هم ونه کړه خاص کرعیسی زوی دمریم دی نصاراوته دمحمد-صلی الله علیه وسلم-د راتلو زیری هم ورکړی وو، ددی زیری

بله معنى نه وه مګر داچې بېشکه محمد-صلى الله عليه وسلم-دوي ته پيغمبر راځي اوالله تعالى به دوي دده په وجه دګمراهۍ څخه وژغوري اودنيغې لیارې په طرف به يې روان کړي.

2-دکوم پيغمبرنوم چې مونږ ته معلوم وي دهغه په نوم باندې ايمان لرل لکه محمد ،ابراهيم ،موسى ،عيسى ، اونوح - عليهم الصلات والسلام- دا پنځه دکلک عزم خاوندان دي په پيغمبرانو کې، په تحقيق سره الله تعالى په قران کې ددوي ياداشت په دوه ځايوکې کړيدى سورت احزاب په دى قول دالله تعالى کې: (وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ) [سورة الأحزاب: 7]

(يادکړه هغه وخت چې اخيستى وه مونږه دپيغمبرانو څخه وعده مضبوطه او ستا څخه هم او د نوح، او ابراهيم، او موسى، او عيسى زوى دمريم،څخه هم).

اوپه سورت شورى کې په دى قول دالله تعالى کې:

(شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ) [سورة الشورى: 13]

(جوړ کړی يې دى ستاسو د پاره دين هغه چې وصيت يې کړى وو په هغى سره نوح-عليه السلام-ته او د هغه دين وحى مونږ تاته هم کړيده اوپه هغه دين مونږ ابراهيم، او موسى، اوعيسى، ته هم وصيت کړى ووچې ودروئ دغه غوره دين اونور دينونه مه جوړوئ).

3-پيغمبرانو چې دکوم شي خبر ورکړى وي او د هغې صحت ثابت شې په هغې باورکول.

4-عمل د محمد-صلى الله عليه وسلم-په شريعت باندى کول اوپه ده سره رسالت پاى ته رسيدلى او دا د ټولو خلکو د پاره پيغمبر دى، الله تعالى فرمايلى: (فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا) [سورة النساء: 65]

(نه ده داسی سستاپه رب می دی قسم وی ایمان والا نه شی جوړیدای تردی پوری چې په تاباندی فیصلې وکړې په هغه اختلافاتوکې چې ددوې په مینځ کې پیداکیږې اوبیادفیصی څخه وروسته په خپلوزړونوکې تنګوالی ونه مومې دهغه فیصلې په وجه چې تاورته کړیده اوغاړه کیږدی دوې پوره غاړه ایښودل).

په پیغمبرانودایمان لرلومیوه دارې اوروښانه فائدې:

1- د الله تعالی په رحمت اود هغه په خصوصی رعایت به پوه شی چې په خپلوبنده ګانویې کړی دی اودوې ته یې پیغمبران رالیږلې ددی دپاره چې دالله تعالی دلیاری ښودنه ورته وکړې او دا ورته په ډاګه کړی چې څرنګه دالله تعالی بنده ګې وکړې څکه یواځی انسانې عقل دانه شې معلوموملای.

2-دالله تعالی ددی عظیم شان نعمت شکر کول.

3- دپیغمبرانو سره مینه کول دهغوې احترام کول په هغوی باندی ښه ویل څنګه چې دهغوې دشان سره لایق وې،څکه چې دالله تعالی پیغمبران دي،دالله تعالی عبادت یې په پوره طریقی سره کړیدی او د هغه

پیغامات یې خلکوته رسولې،او دالله تعالی دبنده ګانو یې پوره خیرخواهي کړیده.

بیشکه ډیرو عنادګرو د پیغمبرانو تکذیب کړی پدې غلط ګمان چې البته دوی انسانان دی، الله تعالی دغه غلط ګمان ددوی یادکړی اوباطل کړی یې دی به دی قول سره:

(وَمَا مَنَعَ النَّا سَ أَن يُؤْمِنُواْ إِذْ جَاءهُمُ الْهُدَى إِلاَّ أَن قَالُواْ أَبَعَثَ اللّهُ بَشَرًا رَّسُولاً * قُل لَّوْ كَانَ فِي الأَرْضِ مَلآئِكَةٌ يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِم مِّنَ السَّمَاء مَلَكًا رَّسُولاً) [سورة الإسراء: 94، 95]

(نه دی منع کړی خلکولره دایمان راوړلوڅخه کله چې دوي ته هدایت راغلی مګردی خبری ایا الله یوبشرپیغمبر رالیږی، ورته ووایه که چیری په ځمکه کې ملایک اوسیدلی نوخاماخابه مونږدوی ته دخپل طرفه ملایک پیغمبرلیږلی وای).

الله تعالی ددوی دغه غلط ګمان باطل کړچې خاماخابه پیغمبر بشر وي ځکه چې دځمکې والاو ته لیږل شوی اود ځمکې والا بشر دی،او که بالفرض دځمکې

والاملایک وای نوهرو مروبه ورته پیغمبرهم ملایک راستول شوی وای ددې دپاره چې یوجنس وای اوهمداشان الله تعالی دهغې خلکوحکایت کوی چاچې دپیغمبرانوتکذیب کړی ویلي یې وو:

(إِنْ أَنتُمْ إِلاَّ بَشَرٌ مِّثْلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ آبَآؤُنَا فَأْتُونَا بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ * قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِن نَّحْنُ إِلاَّ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلَكِنَّ اللّهَ يَمُنُّ عَلَى مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَمَا كَانَ لَنَا أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَانٍ إِلاَّ بِإِذْنِ اللّهِ) [سورة إبراهيم: 10، 11]

(نه یې تاسو مګر بشر زمونږپه شان ایا تاسو غواړۍ چې بندکړئ مونږله دهغه الهه باطلو څخه چې همیشه یې بنده ګی کړیده زمونږ مشرانو، راوړئ مونږته یوښکاره مضبوط دلیل، پیغمبرانو ورته په جواب کې فرمایلي وو:نه یو مونږ مګر انسانان ستاسی په شان لیکن الله تعالی پیرزوینه کوي په رسالت ورکولوسره چاته یې چې وغواړي په بنده ګانوخپلوکې،نه شوکولای چې تاسوته یوه فرمایشی معجزه راوړو مګر دالله په اجازه).

داخرت په ورځ ایمان لرل:

داخرت دورځي څخه مراد د قیامت ورځ ده دا هغه ورځ ده چې الله تعالی په کې ټول خلک دحساب اوبدلي ورکولو دپاره دوباره راژوندی کوي.وجه دنوم اېښودلويې په اخرت سره داده چې ددې څخه بله ددنیا ورځ نشته په داسې طریقې چې جنتیان به دجنت په کورونو کې قرار ونیسې او جهنمیان به په جهنم کې قرارونیسي.

داخرت په ورځ ایمان لرل دري شیانوته مشتمل دی:

1-په دوباره ژوند باندی یقین کول چې دا دمړو را ژوندي کیدل دی په دویمه شپیلۍ سره به ټول خلک رب العالمین ته ودریږي پښې ابله، بربنډ، ناسونته،

الله تعالى فرمايلي: (كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ) [سورة الأنبياء: 104]

(لكه څنګه چې مونږ اول پيدايش دانسانانو کړى دغه شان به يې دوباره هم راژوندي کړو، پوره کول ددې وعدې دي په مونږ يقينا مونږ کوونکي يودې کار لره).

دوباره ژوند رښتيا دى شته ،قران، حديث، دمسلمانانو اجماع ورباندې دليل دى: الله تعالى فرمايلي: (ثُمَّ إِنَّكُمْ بَعْدَ ذَلِكَ لَمَيِّتُونَ * ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ) [سورة المؤمنون: 15، 16]

(بيايقينا تاسووروسته ددى پيدايش دنيايي څخه خاماخامړه کيدونکي ياستې بيايقينا تاسوبه دقيامت په ورځ ژوندي راپورته کړاى شئ).

اونبى-صلى الله عليه وسلم-فرمايلي: (يحشر الناس يوم القيامة حفاة عراة غرلاً)

(خلک به راجمع کړاى شي دقيامت په ورځ پښې ابله ناسونت)متفق عليه.

دقیامت په اثبات باندی دمسلمانانو اجماع ده، او دادحکمت الهی غوښتنه هم ده حکمت هم داغوارۍ چې الله تعالی دی دمخلوقاتو دپاره دوباره ژوندمقرر کړي ددی دپاره چې الله تعالی بدلې ورکړي بنده ګانوته په هغه څه باندې چې الله مکلف کړی ووددوي دخپلو پیغمبرانو په ژبه.الله تعالی فرمایلی: (أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لا تُرْجَعُونَ) [سورة المؤمنون: 115]

(ایاګمان کوی تاسوچې بې شکه تاسومي بې هدفه پیداکړي یاستی اوبیشکه ستاسوواپسي به ماته ونه کړای شي).

اوخپل نبی ته الله تعالی فرمایلی: (إِنَّ الَّذِي فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لَرَادُّكَ إِلَى مَعَادٍ) [سورة القصص: 85]

بیشکه هغه ذات چې په تایې قران نازل کړی خاماخابه تادوباره ژوندته رسوي).

2-په حساب اوپه جزاباندی ایمان:

هربنده سره به دهغه په عمل حساب کیدای شی او د هغي مطابق سزابه ورکولای شي په دی باندې قران،حدیث اواجماع دمسلمانانو دلیل دی:

الله تعالی فرمایلی: (إِنَّ إِلَيْنَا إِيَابَهُمْ * ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ) [سورة الغاشية: 25، 26]

(بیشکه مونږته ددوي راتګ دی اوپه مونږباندي ددوي سره حساب کول دي).

اوالله تعالی فرمایلی دي (مَن جَاء بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا وَمَن جَاء بِالسَّيِّئَةِ فَلاَ يُجْزَى إِلاَّ مِثْلَهَا وَهُمْ لاَ يُظْلَمُونَ) [سورة الأنعام: 160]

(چاچي یوه نیکي راوړه هغه لره لس چنده اجردی اوچاچي یوه بدي راوړه سزابه نه ورکول کیږي مګر د هغه بدی په اندازه او په دوي به هیڅ قسم ظلم نه شی کیدای).

اوالله تعالى فرمايلي:(وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا

وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا وَكَفَى بِنَا حَاسِبِينَ) [سورة الأنبياء: 47]

(دقيامت په ورځ به دعدل تله كيږدو اوپه هيڅ نفس به دزرې په اندازه ظلم ونه شي اوكه داوري ددانې په مقدار عمل وي هغه به هم راوړو او پوره يومونږ حساب كوونكي).

دعبدالله زوي دعمر-رضي الله عنهما-څخه روايت دى بيشكه نبي-صلى الله عليه وسلم-فرمايلي: إن الله يدني المؤمن؛ فيضع عليه كنفه - أي ستره - ويستره، فيقول: أتعرف ذنب كذا؟ أتعرف ذنب كذا؟ فيقول: نعم، أي رب، حتى إذا قَرَّرَهُ بذنوبه، ورأى أنه قد هلك؛ قال: قد سترتها عليك في الدنيا، وأنا أغفرها لك اليوم؛ فيعطى كتاب حسناته، وأما الكفار والمنافقون؛ فينادى بهم على رؤوس الخلائق: هؤلاء الذين كذبوا على ربهم، ألا لعنةُ الله على الظالمين)

(بیشکه الله تعالی به یومومن ځان ته رانږدي کړي اوپرده به ورباندې واچوي اوورته به ووايې ايا د افلانۍ ګناه دی یاده ده؟ ايا د افلانۍ ګناه دی یاده ده؟مومن به ووايې هو،ای زمازبه تردی چې پخپلوګناهونو اقرار وکړی اووګوري چې هلاک شوم نوالله تعالی به ورته ووايې په تحقيق سره ماپرده اچولې تاباندې په دنیاکې اونن ورځ مې درته داګناهونه وبخښل دنیکیوعملنامه به ورکړې اوهرچې کافران اومنافقان دې دمخلوقاتوپه محضرکې به ورته اوازوکړای شی داهغه خلک دې چې په خپل رب يې دروغ ویلی خبرداردالله لعنت دی وي په ظالمانو)متفق علیه.

په یوصحیح حدیث کې دنبي-صلی الله علیه وسلم-څخه ثابت دي:

(أن من همَّ بحسنة فعملها؛ كتبها الله عنده عشر حسنات إلى سبعمائة ضعف إلى أضعاف كثيرة، وأن من همَّ بسيئة فعملها؛ كتبها الله سيئة واحدة)

(بیشکه څوک چې دنیکۍ قصدوکړي اوبیايې په عمل کې راولي ولیکي الله تعالی خپل ځان سره لس نیکۍ

تراوه سوه پورې بلکه ددی څخه په خوراډېرزياتوالي اوڅوک چې ديوی بدۍ قصدوکړي اوبيايي په عمل کې راولي وليکي هغې لره الله تعالی په يوه بدۍ).

په تحقيق سره مسلمانانوپه دی باندی اجماع کړی ده چې حساب او جزا د اعمالو شته: او د اهم دحکمت الهي غوښتنه ده بيشکه الله تعالی کتابونه راليږلی پيغمبران يې راليږلی اوفرض کړی يې ده په بنده ګانوچې دي پيغمبرانوڅه راوړی هغه به منئ اوپه کوم شی چې عمل واجب دی په هغې به عمل کوئ اوڅوک چې ددی سره معارضه کوی دهغوي سره يې قتال واجب کړی دهغويويني اولادونه ښځي اومالونه يې حلال کړی که چيری حساب اوجزاءپه عمل نه وای بياخو دا ټول خاماخا عبث کاروو اوحکيم رب دعبث کارڅخه پاک دی په تحقيق سره الله تعالی دی ته اشاره کړی په دی قول کې: (فَلَنَسْأَلَنَّ الَّذِينَ أُرْسِلَ إِلَيْهِمْ وَلَنَسْأَلَنَّ الْمُرْسَلِينَ * فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِمِ بِعِلْمٍ وَمَا كُنَّا غَآئِبِينَ) [سورة الأعراف: 6، 7]

(قسم دی خاماخا زه به ضروردضرور پوښتنه وکړم دهغه کسانوڅخه چې پیغمبران ورته لیږل شوي اوقسم دی خاماخا ضرور د ضرور زه به دپیغمبرانو څخه هم پوښتنه وکړم اوقسم دی خاماخا زه به دوي ته په پوره پوهه سره بیان وکړم اومونږ غایب نه یو).

3-په جنت اوجهنم باندې ایمان لرل:

جنت او جهنم د مخلوقاتو د همیشه او سید لوځای دی جنت د نعمتونو کور دی الله تعالی مومنانو متقیانو د پاره تیارکړی په کوم شي چې الله ایمان راوړل واجب کړی اوپه هغې یې ایمان راوړی وي اودالله اودرسول تابعداری یې کړی وی اخلاص کوونکي وي الله لره تابعداري کوونکي وی درسول الله ،په جنت کې داسې نعمتونه دي چې سترګو لیدلي نه دي، غوږو اوریدلي نه دي اودیوانسان په سوچ او فکرکې چیرته تیرشوي نه دي.الله تعالی فرمایلی: (إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُوْلَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ * جَزَاؤُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا

رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ) [سورة البينة: 7، 8]

(بیشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی اوعملونه یې کړی دقران اوسنت مطابق داغوره په مخلوقاتوکې دی دالله تعالی سره ددوي بدله جنتونه دهمیشګرۍ دي بهیږي به لاندی دبنګلویادونو دهغې ښخه نهرونه همیشه به وي په هغې کې همیشه الله به ددوي ښخه خوشحاله وي اودوي به دالله ښخه خوشحاله وي داحال به دهغه چاوي چې په دنیاکې دخپل رب ښخه یریدلی وي)

اوالله تعالی فرمایلی:(فَلا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاء بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ) [سورة السجدة: 17]

(نه دي معلوم هیڅ نفس ته هغه نعمتونه چې پټ ساتلي شوې ددوي دپاره چې هغه دسترګویخوالی دی اوبدله ده دهغه عملونوکوم چې دوي همیشه په دنیاکې کړي).

هرچې اوردی دادعذاب کوردی الله تعالی دهغه کافرانو ظالمانو د پاره تیارکړی دی چې په الله تعالی یې کفر

کړیدی په دنیاکې په دی کې عبرتناک قسم قسم عذابونه دي چې تصور ورڅخه عاجز دی.الله تعالی فرمایلی:(وَاتَّقُواْ النَّارَ الَّتِي أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ) [سورة آل عمران: 131]

(دهغه اورڅخه وبیریږئ چې دکافرانودپاره تیارشوی).

اوالله تعالی فرمایلی: (وَقُلِ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ فَمَن شَاء فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاء فَلْيَكْفُرْ إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا وَإِن يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاء كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوهَ بِئْسَ الشَّرَابُ وَسَاءتْ مُرْتَفَقًا) [سورة الكهف: 29]

(بیشکه مونږدظالمانودپاره اورتیارکړی چې راګیرکړي به وي دوي لره لمبوددی اورکه چیرې دوي فریاد دتندې څخه کوي نوګرمی اوبه به ورکړای شي په شان دویلی شوی تامبې چې دمخونوغوښې به یې په کې راتوی شي ډیربدخښل دي.

اوډیربدځای دورتګ دی جهنم).

اوالله تعالی فرمايلی: (إِنَّ اللَّهَ لَعَنَ الْكَافِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيرًا * خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا لَّا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا * يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ يَا لَيْتَنَا أَطَعْنَا اللَّهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا) [سورة الأحزاب: 64، 66]

(بیشکه الله تعالی کافران دخپل رحمت څخه لیری کړی اوګرم اوربي ورته تیارکړی همیشه به وي په دی کي همیشه نه به مومي دوست اونه کومکي په کومه ورځ چي اړولی راړولی شي مخونه ددوي په اورکي وايي به کاشکي افسوس چي دالله تابعداري موکړی وای په دنیاکي او د پیغمبر تابعداري موکړی وای).

داخرت په ورځ باندي ایمان لرلوسره ټول هغه څه تړاولري چي دمرګ څخه وروسته مخي ته راځي:

1- په قبرکي امتحان: کله چي مړی په قبر کي دفن شي دهغه څخه درب، دین، اودنبي په باره کي پوښتني کولوته دقبرامتحان وايي. کلکوي الله ایمان والاپه وینا مضبوطه اووايي: رب مي الله دی،دین مي اسلام دی،اونبي مي محمد-صلی الله علیه وسلم-دی اواړوي

الله ظالمان نووايي کافران هاه هاه نه پوهيږم. اووايي منافقان اوياشکيان: نورنه پوهيږم دخلکو څخه مې يوشی اوريدلی ووهغه می وايه.

2-دقبرعذاب اونعمتونه: هرچې دقبرعذاب دی ادا

د کافرانو، منافقانو، اوظالمانو د پاره دی،الله تعالی فرمايلی: (وَلَوْ تَرَى إِذِ الظَّالِمُونَ فِي غَمَرَاتِ الْمَوْتِ وَالْمَلآئِكَةُ بَاسِطُواْ أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُواْ أَنفُسَكُمُ الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَقُولُونَ عَلَى اللهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنتُمْ عَنْ آيَاتِهِ تَسْتَكْبِرُونَ) [سورة الأنعام: 93]

(که چيری ته وګوری کله چې داکافران دمرګ په سختيوکې وي او ملايکو ورته لاسونه اوږده کړی وي او ورته وايي: راوباسئ خپل روحونه نن ورځ تاسوته سزادرکولای شي په سپکوونکي عذاب سره په دې وجه چې هميشه به تاسوپه الله تعالی نامنا سبه ويناکوله اودالله تعالی دايتونوڅخه مولويي کوله).

اوالله تعالى دفرعون په باره کې فرمايلي:(النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ) [سورة غافر: 46]

(سهار او ماښام- هميشه-وربانددی اور پيشکولای شي، او په هغه ورځ کله چې قيامت ودريږي وبه ويل شي داخل کړئ فرعونيان سخت عذاب ته).

په صحيح مسلم کې حديث دی زيدزوی دثابت دنبي-صلى الله عايه وسلم-څخه نقل کړی نبي-صلى الله عليه وسلم-فرمايلی:

(فلولا أن لا تدافنوا؛ لدعوتُ الله أن يسمعكم من عذاب القبر الذي أسمع منه، ثم أقبل بوجهه؛ فقال: تعوّذوا بالله من عذاب النار) قالوا: نعوذ بالله من عذاب النار، فقال: (تعوّذوا بالله من عذاب القبر) ، قالوا: نعوذ بالله من عذاب القبر، قال: (تعوّذوا بالله من الفتن، ما ظهر منها، وما بطن) ، قالوا: نعوذ بالله من الفتن ما ظهر منها وما بطن، قال: (تعوّذوا بالله من فتنة الدجال) قالوا: نعوذ بالله من فتنة الدجال

(که چیری دا یره نه وای چې بیا به تاسومړي نه دفن کوئ خاماخابه ما د الله تعالی څخه غوښتی وای چې تاسوته يې د قبر عذاب اورولای وی کوم چې زه اورم بیا مخامخ شواو ویې فرمایل: پناه وغواړئ په الله تعالی دعذاب د اور څخه صحابوو وفرمایل: مونږپناه غواړو په الله تعالی باندې دعذاب د اور څخه، بیا نبي-صلی الله علیه وسلم-وفرمایل: پناه وغواړئ په الله تعالی دعذاب قبر څخه. صحابوو وفرمایل: پناه غواړوپه الله تعالی باندی دعذاب قبر څخه بیا نبي-صلی الله علیه وسلم-وفرمایل: پناه وغواړئ په الله تعالی باندی دښکاره فتنو او د پټو فتنو صحابوو وفرمایل: پناه غواړوپه الله تعالی باندی دښکاره فتنو او د پټو فتنو څخه،بیا نبي-صلی الله علیه وسلم-وفرمایل: پناه وغواړئ په الله تعالی دفتنې ددجال څخه،صحابو وويل:پناه غواړو په الله تعالی دفتنې ددجال څخه).

هر چې د قبر نعمتونه دي دا د رېښتينو مومنانو د پاره دي. الله تعالى فرمايلي: (إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ) [سورة فصلت: 30]

(بيشکه هغه کسانو چې داسې وينايې کړېده چې رب زمونږ الله دى اوبيايې ټول طاعتونه اداء کړي دي او ټول منهيات يې پرېښې دوي ته به ملايک د زنکدن په وخت کې راځي او ورته به داسې وايي څه موچې مخې ته راځي له هغې مه بيرېږئ او هغه چې درڅخه پاتې کيږي هغې پسې مه غمژن کيږئ اوخوشحالي وکړئ په هغه جنت چې تاسوسره يې وعده شوې ده).

اوالله تعالى فرمايلي:(فَلَوْلَا إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ * وَأَنتُمْ حِينَئِذٍ تَنظُرُونَ * وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ* فَلَوْلَا إِن كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ * تَرْجِعُونَهَا إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ * فَأَمَّا إِن كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِينَ * فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ وَجَنَّةُ نَعِيمٍ) [سورة الواقعة: 83، 89]

(ولې نه ده کله چې روح مرۍ ته ورسيږي اومخه يې ونيسئ، او تاسو ورته ښه ګورئ،او مونږ ډير نږدې يو

ده ته ستاسو څخه لیکن تاسونه ګوری دی ملایکو لره، نو ولې نه ده که چیرې تاسو نه یاست کمزوري چې راستون کړئ دغه روح لره که ریښتیني یاستي که چیری وی دا روح والا د خورا ډیرو نړد وخلکوڅخه نو دده دپاره راحت دی اوخوړ رزق دی او جنت د نعمتونوڅخه ډک)

دسورت د اخره پوری. دبراءزوی دعازب-رضی الله عنه-څخه روایت دی بیشکه نبي-صلی الله علیه وسلم-فرمایلی دمومن باره کې، کله چې هغه دوه ملایکو ته جواب ورکړی په قبرکې :

(ينادي منادٍ من السماء: أن صدق عبدي، فأفرشوه من الجنة، وألبسوه من الجنة، وافتحوا له بابًا إلى الجنة، قال: فيأتيه من رَوحها وطِيبها، ويفسحُ له في قبره مدَّ بصره)

اوازوکړي یو اواز کوونکی چې رښتیا ویلی زما بنده دجنت فرش ورته وغوړوئ ، دجنت جامې ور واغوندئ او د جنت څخه ورته یوه دروازه پرانیزئ نبي-صلی الله علیه وسلم-فرمایي چې ده ته د جنت هوا او

خوشبویي راځي او د سترګو نظر په اندازه ورته قبر کې پراخوالی کیږي)

احمد او ابوداود په یو اوږود حدیث کې روایت کړی.

داخرت په ورځ دایمان لرلو خوراګټوري فائدی دي ځینی یي دادي:

1-د طاعاتو سره شوق او د هغی د کولو حرص انسان کې پیدا کیږي په دغه ورځ دثواب په اومید.

2-دنافرمانیو څخه یره کول دعذاب دیری دوجه اوپه دغه یره خوشحالي کول.

3-په دی کې تسلی ده مومن ته په هغه څه چې دده څخه پاتی کیږي په مقابل دهغه نعمتونو او ثوابونو کې چې دایي اومید لري به اخرت کې.

په تحقیق سره ډیرو کافرانو انکار کړیدي د بعث بعد الموت څخه غلط ګومان کوی چې دا ممکن نه دی، دا ګومان باطل دي د بطلان لپاره یی دلیل شریعت حس او عقل دی.

هر چې شریعت دی الله تعالی فرمایلي:

(زَعَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَن لَّن يُبْعَثُوا قُلْ بَلَى وَرَبِّي لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ وَذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ) [سورة التغابن: 7]

(ګومان کوی کافران چې هیچیری به دوی دوباره ژوندی نه کړی شی او وایه قسم دی وی زما په خپل رب خامخا به را ژوندي کولای شئ تاسو بیا به خامخا تاسو خبرولي شئ په هغه څه چې تاسو کړی په دنیا کې او دا کار په الله آسان دی) .

په تحقیق سره ټول آسمانی کتابونه په دې متفق دی .

هر چې حس دی په تحقیق سره الله تعالی په دنیا کې خپلو بندګانو ته د مړو ژوندی کول خودلي په سورت بقره کې یې د دې پنځه مثالونه بیان کړیدي :

لومړې مثال: د موسی علیه السلام قوم چې کله هغه ته اوویل:لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّى نَرَى اللَّهَ جَهْرَةً [سورة البقرة: 55]

(هیچیرې مونږ په تا باور نه کوو تر څو چې مونږ الله ښکاره اوګورو)

الله تعالی په دوئ باندې عقوبتا مرګ راوست او بيا يې را ژوندي کړل .

نو په دې باره کې الله تعالی بنی اسرائيلو ته خطاب کوي: (وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَى لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّى نَرَى اللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْكُمُ الصَّاعِقَةُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ *ثُمَّ بَعَثْنَاكُم مِّن بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ) [سورة البقرة: 55، 56]

(ياد کړه هغه وخت چې ويلی وو تاسو يا موسی هيڅکله مونږ په تا باور نه کوو تر څو چې مونږ الله ښکاره اوګورو پس ونيولئ تاسو يوې تيزې چيغې او تاسو ليدل، بيا الله راژوندي کړئ وروسته د مره کيدلو ستاسو څخه، د دې دپاره چې شکر وکړئ) .

دويم مثال : د هغه وژل شوي باره کې چې په وژلو کې يې د بنی اسرائيلو اختلاف وو الله تعالی هغوي ته حکم وکړ چې يوه غوا ذبحه کړئ او د هغې يوه حصه په دې مړي ووهئ نو دا به خپل قاتل تاسو ته وښائی دې باره کې الله تعالی فرمايي:

(وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا وَاللهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ * فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا كَذَلِكَ يُحْيِي اللهُ الْمَوْتَى وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ) [سورة البقرة: 72، 73]

( یاد کړه هغه وخت چې وواژه تاسو یو نفس بیا مو د هغه په وژلو کې اختلاف وکړ او الله ښکاره کونکې دې د هغه څه چې تاسو یې پټوئ پس وویل مونږ اووهئ دې مړي لره په یوه حصه د دغه غواء، دا رنګه الله تعالی مړي را ژوندي کوي او در ښايې تاسو ته دخپل قدرت نښې د دې دپاره چې تاسو د عقل څخه کار واخلئ ).

دریم مثال : په قصه د هغه قوم کې چې هغوی د خپلو کورونو څخه وتلی وو په تیښته د مرګ د یرې او هغوي په زرګونو خلک وو الله تعالی وربانديې مرګ راوستي وو او بیا يې را ژوندي کړي وو.

دی باره کې الله تعالی فرمايی: (أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللهُ مُوتُواْ ثُمَّ أَحْيَاهُمْ إِنَّ اللهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ) [سورة البقرة: 243]

( آيا ته نه يې خبر په حال د هغه کسانو چې وتلی وو د خپلو کورونو څخه د ېرې د مرګ نه او په زرګونو خلک وو، اوويل: دوي ته الله تعالی مړه شئ هغوی مړه شول، بيا الله را ژوندي کړل بيشکه الله تعالی خاوند د فضل دې په خلکو ليکن زيات خلک شکر نه کوي)

څلورم مثال : د هغه چا قصه چې يو کلي والا باندې تيريده او هغوي مړه وو ده بعيده وګڼله چې دوئ الله را ژوندي کړي الله په ده سل کاله مرګ راواسته بيا يې را ژوندي کړ.

په دې باره کې الله تعالی فرمايلي: (أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَى قَرْيَةٍ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَى عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّى يُحْيِي هَذِهِ اللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا فَأَمَاتَهُ اللَّهُ مِئَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ قَالَ بَل لَّبِثْتَ مِئَةَ عَامٍ فَانظُرْ إِلَى طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ وَانظُرْ إِلَى حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ آيَةً لِّلنَّاسِ وَانظُرْ إِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) [سورة البقرة: 259]

( او په شان د هغه چا چې تيريده په يو کلي باندې او هغه را پريوتې وو په خپلو چتونو هغه وويل: څنګه به الله تعالی دوي را ژوندي کړي پس له مرګه ، مړ کړ ده لره الله سل کاله بيا يې ژوندي را پورته کړ ورته ويې ويل: څومره وخت دې تير کړې؟ هغه وويل: يوه ورځ يا څه حصه د ورځې الله تعالی ورته وويل: بلکه سل کاله دې تير کړيدي خوراک څښاک ته دې وګوره هيڅ تغير يې نه دې کړې خر ته دې وګوره د دې لپاره چې وګرځوو مونږ تاله نښه د خلکو دپاره او هډوکو ته يې وګوره چې څنګه يې په حرکت راولو او بيا غوښې ور اغوندو، هر کله چې ورته واضحه شوه وې ويل: زه پوهيږم چې بيشکه الله تعالی په هر شي قدرت لري ).

پنځم مثال: قصه د ابراهيم عليه السلام ده کله يې چې الله تعالی ته سوال وکړ چې ماته را وښايه چې څه رنګه مړي ژوندي کوي الله تعالی ورته امر وکړ چې څلور مارغان حلال کړه او بيا يې جدا جدا برخې چار چاپيره غرونو باندې کيږده او بيا ورته آواز وکړه هغه مختلفې ټوټې به يو بل سره يوځای شي او ابراهيم ته به په منډه راشي، دې باره کې الله تعالی فرمايي:

(وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَى قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِن قَالَ بَلَى وَلَكِن لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِي قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِّنَ الطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ ثُمَّ اجْعَلْ عَلَى كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءاً ثُمَّ ادْعُهُنَّيَأْتِينَكَ سَعْياً وَاعْلَمْ أَنَّ اللهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ) [سورة البقرة: 260]

(او یاد کړه هغه وخت چې ویلي وو ابراهیم خپل رب ته چې ته ښکاره دا مړي را ژوندي کوې؟ الله تعالی وویل: آیا ته یې نه باوره وې؟ هغه وویل: ولی نه زه یې باوره وم لیکن خپل باور زیاتوم الله تعالی وویل: څلور مارغان ونیسه او ټوټه ټوټه یې کړه ځان سره او بیا په هر غره باندې د دې یوه ټوټه کېږده بیا یې راوبله رابه شي تاته په منډه پوه شه بیشکه الله تعالی غالب دې حکمتونو والا دې) .

دا ښکاره حسي واقعي په دې دلیل دې چې مړي ژوندي کول کیدونکې کار دې او دې ته مخکې هم اشاره شوې وه په هغه معجزو کې چې الله تعالی ځوئ د مریم ته ورکړې وې یوه په کې مړي ژوندي کول او د قبرونو څخه را ویستل وو د الله تعالی په حکم سره .

او د عقل دلالت د دوه و وجو ښخه دي :

لومړئ وجه :بيشکه الله تعالی پيدا کونکي دي د آسمان او د ځمکي او هغه څه چي په مينځ د ديو کي دي لومړي پيدايشت يي الله تعالی کړي او قانون دا دي چا چي يو شي د لومړي ځل دپاره جوړ کړي وي نو د دوباره جوړولو ښخه يي عاجر نه وي، الله تعالی فرمايلي: (كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ) [سورة الأنبياء: 104] (څرنګه چي مونږ شروع کړي دی اول پيدايشت دوباره يي هم پيدا کوو دا وعده پوره کول مونږ په ځان لازمه کړي بيشکه مونږ دي کار لره کونکي يو) .

او الله تعالی فرمايلي حکم کوی د رد په هغه چا باندي چي د دي زره زره شوو هډوکو د راژوندي کولو ښخه انكار کوي: (قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ) [سورة يس: 79]

( اووايه را ژوندي به کړي دي لره هغه ذات چا يي چي لومړي پيدايشت کړيدي او هغه په هر مخلوق پوهه دي ).

دويمه وجه : دا ځمکه وچه او سپيره وه هيڅ شين بوټي ورسره نه وو ،الله تعالى وربانديې باران وکړ تازه زرغونه شوه هر قسم د نباتاتو ښايسته جوړې په کې پيدا شوې هغه ذات چې د دې ځمکې په زرغونولو قدرت لري هغه د مړو په را ژوندي کولو باندې هم قدرت لري .

الله تعالى فرمايي: (وَمِنْ آيَاتِهِ أَنَّكَ تَرَى الأَرْضَ خَاشِعَةً فَإِذَا أَنزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَاء اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ إِنَّ الَّذِي أَحْيَاهَا لَمُحْيِي الْمَوْتَى إِنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) [سورة فصلت: 39]

( د الله تعالى د قدرتونو د نښو څخه بيشکه ته ګورې ځمکه ذليله کله چې مونږ په دې باندې اورښت وکړو په حرکت راشي او زيات کړي شينکو لره يقينا هغه ذات چې دا ځمکه يې را تازه کړه خامخا ژوندي کوې دې مړو لره بيشکه الله تعالى په هر شي قدرت لري ) .

او الله تعالى فرمايي: (وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَاء مَاء مُّبَارَكًا فَأَنبَتْنَا بِهِ جَنَّاتٍ وَحَبَّ الْحَصِيدِ * وَالنَّخْلَ بَاسِقَاتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيدٌ * رِزْقًا لِّلْعِبَادِ وَأَحْيَيْنَا بِهِ بَلْدَةً مَّيْتًا كَذَلِكَ الْخُرُوجُ) [سورة ق: 9، 11]

( او مونږ را ليږلو د آسمان د طرفه د خير نه ډکې اوبه او په هغې باغونه شنه کوو او دانې لو کړې شوې او خورما اوږدې لرونکې د وږو يو دبل دپاسه دپاره د خوراک د بندګانو او ژوندئ کوو په دغه اوبو هغه وچه ځمکه، دغه شان ستاسو راوتل به وي د قبرونو څخه) .

اوس په تحقيق سره بې لياره شوې يو قوم د کږو زړونو والا د عذاب قبر او د هغې د نعمتونو څخه يې انکار کړيدې ګومان کوي چې دا ناشونې کار دې وايې که دا قبر راوسپړو اوبه مومو چې مړې په هماغه حال پروت دې لکه څنګه چې مو ايښې وو او قبر نه پراخ شوې او نه تنګ شوې .

دا غلط ګومان شريعت، حس او عقل ټولو باطل کړې، د شريعت دلايل په اثبات د عذاب قبر او نعيم قبر کې د آخرت په ورځ ايمان لرلو سره چې کوم شيان تړاو لري د هغې په (ب فقره) کې تير شو .

په صحيح بخاري کې د ابن عباس رضى الله عنهما-څخه روايت دې فرمايي: (خرج النبي صلى الله عليه وسلم من بعض حيطان المدينة؛ فسمع صوت إنسانين يُعَذبَانِ في قبورهما) وذكر الحديث، وفيه:) أن أحدهما كان لا يستتر من البول) وفي رواية: (من بوله) ، وأن الآخر كان يمشي بالنميمة)

(نبى صلى الله عليه وسلم د مدينې د بعض باغونو څخه راووت آواز يې واوريد د دوه انسانانو چه عذابولې شو په خپلو قبرونو کې) حديث يې ذکر کړې او دا په کې دي ( يو د دې دواړو څخه هغه انسان وو چې د خپلو رڼو متيازو څخه يې ځان نه ساته او هر چې دا بل وو هغه چغلي کوله ).

د حس دلالت :بيشکه يو بيده په خوب کې ګوري چې يو پراخ شين ځائ کې خوشحالى احساسوى او يا يو تنګ ډارونکي ځائ کې درد او خفګان احساسوي او کله کله رابيداره شى د هغه خوب د ليدلو د وجې چې ګوري په خپله کوټه کې په خپل فراش باندې څنګه چې بيده شوې وو هماغسې وي .

خوب د مرګ سره مشابه دي، ځکه ورته الله تعالی وفات ویلی الله تعالی فرمایلي: (اللَّهُ يَتَوَفَّى الأنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَالَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا فَيُمْسِكُ الَّتِي قَضَى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الأخْرَى إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى) [سورة الزمر: 42]

( الله تعالی نفسونه اخلي کله چې بیدیږي هغه چې د مرګ فیصله وربانديې نه وي شوې په خوب کې پس نیسي هغه نفس چې فیصله د مرګ وربانديې شوې وي او خوشې کوي هغه نورو لره تر هغه نیټې معلومې پورې) .

د عقل دلالت: بیشکه یو بیده کله رښتیا د واقعې مطابق خوب ګوري، ډیر کرتې نبی صلی الله علیه وسلم په خپل صحیح شکل سره وګوري ، او چاچې نبی صلی الله علیه وسلم په خپل اصلی شکل ولیده دا حق دې کیدای شی، د دې سره هغه په خپله کوټه کې په خپله بستره پروت وي هغه څه یی چې لیدلي د هغې څخه خورا زیات لیرې وي دا ټول څه چې دنیا کې کیدونکي دي آیا د آخرت په احوالو کې ناممکن دي؟ هرچې د دوې په کوم شي اعتماد دې هغه دا چې که

مونږ راښکاره کړو نو مړي په هماغه حالت پروت وي په کوم حالت چي مونږ ایښي وو په قبر کي نه پراخوالي راغلي او نه تنګوالي .

د دي جواب په څو وجوهو سره دي ځيني يی دا دي :

د شریعت سره په ټکر کي داسي بیکاره شبهی اچول نه دی جایز که دغه معارض په دې خپلو شبهو مناسب سوچ وکړي هرو مرو به د دې شبهاتو بطلان ور معلوم شي.

ویلي شوي : ډیر کرتي په یوه صحیح وینا باندې خلک عیب لګوي ، خو د دې عیب لګولو علت د دوي ناجوړه فهم وي.

برزخي احوال دا د غیابي امور څخه دي حس يي نه شي راګیره ولي که حس يي ادراک کولای شوای بیا خو په غیبو باندې د ایمان فایده نه پاتي کیده او بیا خو په غیبو باور کونکي او دغیبو څخه انکار کونکي یو شانته کیدل .

د قبر عذاب او د قبر نعمتونه او د قبر پراخوالي او تنګوالي په دې خو مړي پوهیږي بل څوک وربانديې نه پوهیږي او دا په شان د هغه چا دې چې خوب ګوري چې یو تنګ ډارونکي ځای کې دې یا پراخه ښایسته شین ځای کې دې د بل چا په نسبت سره په ده کې هیڅ تغیر نه معلومیږي په خپله کوټه کې په خپله بستره کې پروت دې .

په تحقیق سره نبی صلی الله علیه وسلم ته به وحی کیدې شوه په داسې حال کې چې د صحابه و په مینځ کې به وو نبی صلی الله علیه وسلم به وحی اوریدله او صحابه و به نه اوریدله او ډیر کرتې به ملائک د سړي په شکل کې ورسره خبرې کولې او صحابه و به ملائک نه لیدل او نه به یې خبرې اوریدلې .

یقینا د مخلوق ادراک محدود دې په هغه اندازه چې الله تعالی قدرت ورکړی دوي ته د ادراک کولو ، امکان نه لری چې د ټولو موجوداتو ادراک دې وکړي، اوه آسمانونه ، ځمکه او هغه څه چې په دې کې دي دا هر شي د الله تعالی پاکي او ثناء وایي حقیقي پاکي ، او

چې الله تعالى يى وغوارړي کله کله يى مخلوق ته هم ور اوروي ، سره د دې دا ټول زمونږ څخه پټ دي.

دې باره کې الله تعالى فرمايي: (تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوَاتُ السَّبْعُ وَالأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلاَّ يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَكِن لاَّ تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ) [سورة الإسراء: 44]

(پاکي وايي خاص الله تعالى لره اوه آسمانونه او ځمکه او هغه څه چې په دې کې دي ، او نه شته هيڅ شي مګر دالله تعالى پاکي وايي سره د ثنا د هغه ليکن تاسو د دوي په تسبيحاتو نه پوهيږئ) .

همدا شان شيطانان پيريان منډي وهي په ځمکه کي ځي را ځي په تحقيق سره نبى صلى الله عليه وسلم ته پيريان حاضر شوي وو د هغه قراءت ته يى غوږ ايښي وو او چوپ وو او بيا خپل قوم ته ولاړل هغوى يى ويېرول سره د دې چې پريان زمونږ څخه پټ دي دې باره کى الله تعالى فرمايلي:

(يَا بَنِي آدَمَ لاَ يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ كَمَا أَخْرَجَ أَبَوَيْكُم مِّنَ الْجَنَّةِ يَنزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْءَاتِهِمَا إِنَّهُ يَرَاكُمْ

هُوَ وَقَبِيلُهُ مِنْ حَيْثُ لاَ تَرَوْنَهُمْ إِنَّا جَعَلْنَا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاء لِلَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ) [سورة الأعراف: 27]

(یا د آدم اولاده فتنه کې دې وا نه چوي تاسو لره شیطان لکه څنګه یې چې ستاسو مور او پلار د جنت څخه راویستلي وو د دې دپاره چې وښایي هغوی ته د هغوی عورتونه بېشکه دا شیطان تاسو ګوري او د ده قبیله هم تاسو ګوري او تاسو دوئ نه وینئ بیشکه مونږ شیطانان دوستان جوړ کړي د هغه کسانو چې ایمان نه لري) .

هر کله چې دا ثابته شوه چې مخلوق د ټولو موجوداتو ادراک نه شي کولای نو دا نه دي جایز دوئ لره چې انکار وکړي د هغه غیبي امورو څخه چه په شریعت کې ثابت دي او دوی یې ادراک نه شي کولای .

په قدر باندې ایمان لرل : القدر: د دال په زور باندې د الله تعالی له طرفه د کائناتو اندازه کول د الله د علم او د هغه د حکمت د غوښتنې مطابق د یته قدر وایی

په قدر باندې ایمان مشتمل دې په څلورو کارونو:

په دې خبره ایمان لرل چې هر شې ټوټل او یویو پخوا د پخوا څخه د الله تعالی په علم کې وو برابره خبره ده که دغه شیانو د الله تعالی د کارونو سره تړاو درلوده او که د مخلوق د کارونو سره یی تړاو درلوده.

په دې خبره ایمان لرل چې الله تعالی دا خپل معلومات په لوح محفوظ کې ولیکل د دې دوه و خبرو باره کې الله تعالی فرمایی : (أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاء وَالْأَرْضِ إِنَّ ذلِكَ فِي كِتَابٍ إِنَّ ذلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ) [سورة الحج: 70]

( آیا ته نه پوهیږې ای مخاطبه په دې خبره چې بیشکه الله تعالی پوهه دې په هغه څه چې په آسمان کې دي او په هغه څه چې ځمکه کې دي یقینا دا ټول لیکلې شوي دي او یقینا دا ټول په الله ډیر آسان دي ) .

په صحیح مسلم کې د عبدالله زوی د عمرو زوی دعاص څخه روایت دي فرمایی: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی چې ویل یی : (کتب الله مقادير الخلائقِ قبل أن يخلق السموات والأرض بخمسين ألف سنة)

( د آسمانونو او ځمکو د پیدایشت څخه پنځوس زره کاله پخوا الله تعالی د مخلوقاتو اندازې لیکلي) .

ایمان لرل په دې خبره چه نه دي کاینات مګر د الله تعالی په اراده کې دي برابره خبره ده که دا کاینات د الله د کارونو سره تړاو لري او که د مخلوق د کارونو سره .

الله تعالی د هغه څه باره کې چې د هغه د کار سره تړاو لري فرمايي: (وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ) [سورة القصص: 68] ( او ستا رب پیدا کوي هغه شې چې وی غواړي او غوره یی کړي ) .

او فرمايی: (وَيَفْعَلُ اللهُ مَا يَشَاء)[سورة إبراهيم: 27]

( الله هغه څه کوي چې خوښه يی شي ) .

او فرمايی: (هُوَ الَّذِي يُصَوِّرُكُمْ فِي الأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَاء)

[سورة آل عمران: 6]( الله هغه ذات دی چه شکلونه درکوي تاسو ته په رحمونو کې ښنکه يی چې خوښه شي ) او هغه څه چې د مخلوق د کار سره تړاو لري دي باره کې فرمايی:(وَلَوْ شَاء اللهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقَاتَلُوكُمْ)[سورة النساء: 90](که چیرې الله جبرا غوښتی وای خامخا به یی دربانديې دشمن مسلط کړې وای او جنګ به یی در سره کړې وای).

او فرمايی: (وَلَوْ شَاء رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ)

[سورة الأنعام: 112] ( که چیرې جبرا الله غوښتی وای نو دوی به نه وی کړی هغه کار لره پس پریږده دوی او هغه درواغ چې دوی یې جوړوي .

په دې خبره ایمان لرل چې ټول کائنا د ذات، صفتونو او حرکتونو سره د الله مخلوق دي .

الله تعالی فرمایی: (اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ)[سورة الزمر: 62]

(الله تعالی د هرشی خالق دی او دا الله د هر شي ذموار دې ) .

او فرمایی: (وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا) [سورة الفرقان: 2]

( او پیدا کړې الله هرشی او اندازه کړې یی دې په اندازه کولو)

او الله تعالی د ابراهیم علیه السلام په باره کې فرمایلي چې خپل قوم ته وایی: (وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ) [سورة الصافات: 96]

(الله تعالی تاسو هم پیدا کړي یاستۍ او ستاسو عملونه یی هم پیدا کړي دي) .

په قدر باندې ایمان لرل په دغه طریقه چې مونږ یی بیان وکړ منافي نه دې چې د بنده دپاره دې اراده وي او د هغه دپاره دې قدرت وي په خپلو اختیاري کارونو باندې ځکه شریعت مطهره او واقع دواړه د بنده دپاره د دې په اثبات باندې دلیل دې .

د شریعت دلیل: د ارادې او (مشیئه) باره کې الله تعالی فرمایی:(فَمَن شَاء اتَّخَذَ إِلَى رَبِّهِ مَآبًا) [سورة النبأ: 39]

( د چا چې خوښه وي خپل رب ته دې ځای د ورتګ ونیسي) .

او فرمایی: (فَأْتُواْ حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ) [سورة البقرة: 223]

( راتګ کوئ خپل فصل ته په کوم کیفیت مو چې خوښه وي) .

او د قدرت باره کې یی فرمایلي:(فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا) [سورة التغابن: 16]

( د الله څخه اوبیریګئ د خپل توان او قدرت په اندازه او واورئ او تابعداري کوئ) .

او فرمایی: (لاَ يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا إِلاَّ وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ) [سورة البقرة: 286]

( الله بوج نه باروي په هيڅ نفس باندي مګر د هغه دتوان او قدرت مطابق، د دې نفس دپاره به اجر دهغه څه وي چې کړې یی دي او په ده به وبال د هغه څه وي چې کړې یی دي )۔

د واقع دلیل: هر انسان پوهیږی چې بیشکه د ده قدرت او اراده دواړه شته او د دې دواړو په وجه کول او نه کول تر سره کوي او فرق کوي په مینځ ده هغه څه کي چې د ده په اراده تر سره کیږی لکه تلل او هغه څه چې په غیر د ده د ارادې څخه را مینځته کیږی لکه رپیدل لیکن د بنده اراده او قدرت دواړه د الله تعالی په اراده اوقدرت واقع کیږي دلیل وربانديې دا قول د الله تعالی دې: (لِمَن شَاء منكُمْ أَن يَسْتَقيمَ * وَمَا تَشَاؤُونَ إِلاّ أَن يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ) [سورة التكوير: 28، 29]

( د چا چې خوښه وي په تاسو کې چې ځان برابر کړي او ستاسو خوښه نه شی کیدای مګر چې الله یی وغواړي پالونکې د مخلوقاتو) .

ځکه دا ټوله دنیا د الله تعالی شتمني ده او د الله تعالی په شتمنۍ کې د الله د علم او ارادې څخه بهر هیڅ شې نه شته .

په قدر باندې ایمان لرل په دغه طریقه چه مونږ یی بیان وکړ دا یو بنده ته دلیل نه ورکوي په پریخودلو د واجباتو یا په کولو د ګوناهونو بناء په دې چې څوک واجبات پریږدي او یا ګناهونه کوی او بیا په قدر دلیل نیسي دا دلیل نیول یی باطل دي د څو وجو څخه :

د الله تعالی د دې وینا د وجې: (سَيَقُولُ الَّذِينَ أَشْرَكُواْ لَوْ شَاء اللّهُ مَا أَشْرَكْنَا وَلاَ آبَاؤُنَا وَلاَ حَرَّمْنَا من شَيْءٍ كَذَلِكَ كَذَّبَ الَّذِينَ من قَبْلِهِم حَتَّى ذَاقُواْ بَأْسَنَا قُلْ هَلْ عِندَكُم مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوهُ لَنَا إِن تَتَّبِعُونَ إِلاَّ الظَّنَّ وَإِنْ أَنتُمْ إَلاَّ تَخْرُصُونَ) [سورة الأنعام: 148]

(ژر دې وبه وایی مشرکان که چیرې الله غوښتي وای مونږ او زمونږ مشرانو به شرک نه وای کړای او نه به مو

هيڅ شي حرام کړې واى دغه رنګه درواغ ويلي وو هغه کسانو چې مخکې له دوي څخه وو تر دې چه و ځکه هغوې عذاب زمونږ ، اووايه آيا تاسو سره څه دليل شته چې ښکاره يې کړئ مونږ ته؟ تاسو نه ياست روان مګر ګومان پسې او نا ياست تاسو مګر درواغ ويونکي ) .

که چيرې د دوي په قدر باندې دليل نيول سم واى الله تعالى به وربانديې خپل عذاب نه څکلو.

دا قول د الله تعالى:(رُّسُلاً مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلاَّ يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّهِ حُجَّةٌ بَعْدَالرُّسُلِ وَكَانَ اللّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا) [سورة النساء: 165]

(ليږلي مونږ پيغمبران ډير په داسې حال کې چې زيرې ورکوني وو منونکو ته او بيرونکي وو نامنونکو لره، د دې دپاره چې د الله په وړاندې د دوئ عذر پاتې نه شي روسته د پيغمبرانو د ليږلو څخه او دې الله زورور او حکمتونو والا).

که چيرې مخالفينو دپآره په قدر دليل نيول صحيح واى نو د پيغمبرانو په ليږلو به نه واى نفي شواى ځکه

د دوی مخالفت کول روسته د پیغمبرانو د لیږلو څخه هم د الله په قدر واقع شوې .

بخاري او مسلم او یوازی بخاري هم د علی بن ابی طالب څخه نقل کړي چې بیشکه نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی : (ما منکم من أحد إلا قد کتب مقعده من النار أو من الجنة)

(نه شته په تاسو کې هیڅ یو کس مګر په تحقیق سره لیکل شوې ځای د هغه په اور کې هم او په جنت کې هم)

د قوم څخه یو سړي اوویل: نو آیا په همدغې بروسه ونه کړو ای د الله رسوله ؟ نبی صلی الله علیه وسلم ورته وویل: یه ، عمل کوئ هر یو ته آسان کړې شویدې. بیا یی دا آیت ولوست : (فَأَمَا مَنْ أعطَى واتَّقَى) [سورة الليل: 5] (پس هغه څوک چې ورکړه وکړې او د الله عذاب ته وقایه جوړه کړي).

او د مسلم لفظ داسې دې:

(فكل مُيَسّرٌ لما خلق له)( هر يو آسان کړې شویدې هغه څه ته چې هغې ته يی پیدایشت شوې) ،

نبی صلی الله علیه وسلم په عمل کولو امر کړې او په قدر باندې یی دتکیه کولو څخه ژغورنه وکړه.

بیشکه الله تعالی بنده ته امر او نهی کړی او نه یی دې مکلف کړې مګر د هغه د توان او طاقت په اندازه ، الله تعالی فرمایلی دي : (فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ) [سورة التغابن: 16]

( د خپل توان په اندازه د الله څخه اوبیریږې) .

او فرمایلي یی دي : (لاَ يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا إِلاَّ وُسْعَهَا) [سورة البقرة: 286]

( الله تکلیف نه باروي په یو نفس مګر د هغه د توان مطابق).

که چیری بنده مجبور وای د یو کار په کولو نو خامخا به مکلف وای په هغه څه چې ده به یی توان نه لرلي ،

او دا باطل کار وو د دې وجې نه چې د یو بنده څخه ګناه وشي په ناپوهۍ سره او یا د نسیان د وجې او یا وربانديې زور وکړې شي په دې ټولو صورتونو کې دا ګناهګار نه دی ځکه دا معذور دې.

قدر دا د الله تعالی پټ راز دی په دی څوک نه پوهيږي مګر وروسته د واقع کیدلو دمقدور څخه او وروسته د بنده د ارادی څخه هغه کارلره چې کوی یې دغه بنده په داسی حال کې چې وړاندیوالی کړی وي ارادی دده په کار کولو دده پس نه شوه اراده دده دغه کارلره مبني په علم دده دالله په قدربانډی پدغه وخت کې نفی شوه دلیل نیول دده دالله په قدر ځکه دلیل نه دی صحیح د یو شخص دپاره په هغه څه چې دهغې علم ده سره نه وي.

6-مونږ ګورو یو انسان چې حرص کوي یه حصول دهغه څه چې دایې دخپل ځان دپاره د دنیا په کارونو کې مناسب ګڼي تردی چې لاس ته یې راوړي اونه کړیږي ددغه کار څخه هغه څه ته چې دایې مناسب نه ګڼي او بیا دلیل ونیسي په خپلو کړیدلو د الله په قدر

ایا ددی دواړو کارونو یو حیثیت نه دی؟ یو مثال سره به ددی ښه وضاحت وشي د یو انسان مخی ته دوه لیاري دي یوه داسي ښارته رسیدلي چي هلته ګډوډي وژل، لوټمار، او دعزت سپکاوی، یره، لوګه ده، او دویمه لیار داسی یو کلی ته رسیدلی چي هلته نظام، امن، امان، پراخه ژوند، دنفسونو، عزتونو، مالونو، احترام کیږي په کومه یوه لیار به دا انسان درومي بیشکه دابه په دغه دویمه لیارځي کومه چي هغه کلي ته رسیدلي په کوم کي چي امن دی نظام دی د هیڅ عقل مند د پاره په هیڅ صورت کي ممکنه نه ده چي د هغه کلی په لیار دی روان شي په کوم کي چي ګډوډي او یره ده اوبیادی دلیل په قدر ونیسي چي دا به ماته مقرره وه پس ولي د اخرت په کار کي داور په لیار روانیږی نه د جنت په لیار او دلیل په قدر نیسي چي دا ماته مقدره وه.؟

بل مثال: یومریض دی چي دیودواء په څښلو ورته امر شوی او د هغه نفس یې نه غواړي او د هغه طعام د خوړلو څخه منع شوی چي ده ته ضرر رسوي هغه پریږدي اوحال دا چي دده نفس یې غواړي داټول هغه

څه دي چې دصحت موندلو او سلامتيا د پاره يې کوي، امکان نه لرى چې دا دهغه دواء دڅښښلوڅخه ځان وژغوري اوهغه طعام چې ده ته ضرر رسوي هغه وخوري او بيا په قدر باندې دليل ونيسي، نوولې يو انسان هغه څه چې الله او د هغه رسول ورباندې دکولو امر کړى او دايې نه کوي اوهغه چې الله او د هغه رسول ورڅخه ژغورنه کړې هغه کوي ، او بيا په قدر دليل نيسي.؟

7-هغه څوک چې واجبات نه اداء کوي او نافرمانۍ کوى او بيا وايې چې دا ماته ليکل شوي ، په قدر دليل نيسي که چيرې په دغه انسان څوک ظلم زياتى وکړې ،مال يې واخلى،يايې څه بله بې عزتي وکړي او بيا په قدر دليل ونيسي او ورته ووايې چې ورورہ ما ولې ملامته کوې؟ زما د طرفه چې ستا کومه بې عزتي وشوه دا خو د الله تقديروو، نو دغه انسان به ددہ دغه دليل قبول نه کړي. عجيبه خبره ده په ده چې چا زياتى وکړ او هغه په قدر دليل ونيوه ده قبول نه کړ، او دا چې د الله تعالى د حقوقو څخه تجاوز کوې دخپل ځان دپاره په قدردليل نيسي.!

په قدرباندې دایمان لرلو ګټورې فائدې دي ځينې دهغي څخه:

1-الله تعالی باندې اعتماداو تکیه کول د اسبابو د استعمالولو په وخت کي نه په نفس سبب باندی ځکه هر شی دالله تعالی په قدردی.

2-کله چې یوانسان ته مراد حاصل شي ځان ته به نه غره کیږي ځکه دا یو نعمت وو د الله تعالی دطرفه، په دی وجه چې ده ته یې دخیر او کامیابۍ اسباب مقررکړي وو او ځان ته غره کیدل د ده څخه دددغه نعمت شکریه هیروي.

3-سکون او نفسې راحت په سبب دهغه اقدارو د الله تعالی چې په ده روان دي،نو دا بیانه تنګیږي د یو محبوب شی په فوت کیدو سره او یا د یو مکروه شی په رسیدو سره، ځکه دا ټول دالله قدر دی هغه ذات چې دهغه دپاره پاچاهی ده د اسمانونو او ځمکې او دغه کار کیدونکي وو اوهیچاپي مخه نه شوه نیولای دی باره کي الله تعالی فرمای:

(مَا أَصَابَ من مُّصيبَة فِي الأَرْضِ وَلا فِي أَنفُسكُمْ إِلاَّ فِي كتَابٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَا إِنَّ ذلكَ عَلَى اللَّهِ يَسيرٌ * لكَيْلا تَأْسَوْا عَلَى مَا فَاتَكُمْ وَلا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ وَاللَّهُ لا يُحبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ) [سورة الحديد: 22، 23]

(نه رسيږي يو مصيبت په ځمكه كې اونه ستاسو په نفسونوكي مګر هغه ليكل شوى مخكي دپيدايش دهغې څخه بيشكه دا الله ته اسان دى،د دى دپاره چې تاسوغمجن نه شئ هغه څه پسى چې ستاسو څخه فوت كيږي اومست نه شئ په هغه نعمت چې الله تعالى دركړى او الله مينه نه كوي دهر متكبر او په نعمتونو باندى مستي كوونكو سره).

اونبى-صلى الله عليه وسلم-فرمايلى:(عجبًا لأمر المؤمن إنّ أمره كلَّه خير، وليس ذاك لأحد إلا للمؤمن، إن أصابته سرّاءَ شكر؛ فكان خيراً له، وإن أصابته ضرّاءَ صبر؛ فكان خيراً له)

(دمسلمان كار ته تعجب دى بيشكه په هر كار كې دده خيردى،او د هيچا دپاره دانه ده مګر دا يواځې دمومن خصوصيت دى، كه چيرې خوشحالى ورته

ورسیږي او شکر وربانديِ وکړي داهم دده دپاره خیردی،اوکه څه تکلیف ورته ورسیږي اوصبر وربانډی وکړي نو دا هم ورته خیردی) داحدیث مسلم روایت کړی.

په تحقیق سره د قدر باره کې دوه طایفې بی لیاری شوی یوه ددی دوو څخه جبریه ده:

داهغه خلک دي چې وايي: بنده مجبور دی په خپل کاې کولو کې یې هیڅ قدرت او اراده نشته

دویمه طایفه قدریه ده: دا هغه خلک دي چې وايي: بنده په خپل کارکې ازاد دی دالله تعالی دقدرت او ارادی د ده په کارکې هیڅ اثر نشته.

په دغه نظریه باندی رد د شریعت او د واقع د دلایلو په رڼاکې:

1-دشریعت دلیل: الله تعالی بنده لره خوښه او اراده ثابته کړی او ده ته یې دعمل نسبت کړیدی. الله تعالی فرمایلی:(مِنكُم مَّن يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ الآخِرَةَ)

[سورة آل عمران: 152]

(ځيني په تاسوكي دنياغواړی اوځيني په تاسوكي اخرت غواړي)

اوالله تعالی فرمايلی:(وَقُلِ الْحَقُّ من رَّبِّكُمْ فَمَن شَاء فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاء فَلْيَكْفُرْ إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا) [سورة الكهف: 29]

(اووواية چي حق ستادرب د طرفه دی،دچاچي خوښه وي ايمان دی راوړي اودچاچي خوښه وی كفردی وكړي،بيشكه مونږ كافرانوته اورتيارکړی راګيربه کړي دوي لره لمبي داور).

اوالله تعالی فرمايلی: (مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِه وَمَنْ أَسَاء فَعَلَيْهَا وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ) [سورة فصلت: 46]

(چاچي دقران اوسنت مطابق عمل وكړفايده يي دځپل ځان ده اوچاچي بدعمل وكړووبال يي په هغه دی، او نه دی ستارب ظلم كوونكي په بنده)

2-دواقع دليل: بيشكه هر انسان پيژني فرق پځپلو اختياري كارونو كي هغه چي دايي ترسره كوي پځپلی ارادی سره، لكه خوراک، ښباک، اخستل، خرڅول. او

هغه کارونه چې دده څخه په غیر دده د ارادی واقع کیږي لکه، لړزه دشدیدی تبې، راغورځیدل. پس دغه انسان دا لمړي کارونه په خپله خوښه او اراده په غیر دکوم مجبوریت څخه کوي او په دی دویم قسم کارونوکې دده خوښه او اراده نشته کله چې واقع کیدل..

په دویمه طایفه(قدریه)شرعي اوعقلي رد:

1-شرعي رد: الله تعالی دهرشی خالق دی، او هر شی په خپله اراده کیدونکی دی په تحقیق سره الله تعالی پخپل کتاب کې داخبره په ډاګه کړیده چې دبنده ګانوکارونه د دوي په خوښه واقع کیږي. الله تعالی فرمایلی: (وَلَوْ شَاء اللّهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِينَ مِن بَعْدِهِم مِّن بَعْدِ مَا جَاءتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَلَكِنِ اخْتَلَفُواْ فَمِنْهُم مَّنْ آمَنَ وَمِنْهُم مَّن كَفَرَ وَلَوْ شَاء اللّهُ مَا اقْتَتَلُواْ وَلَكِنَّ اللّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ) [سورة البقرة: 253](که چیری الله جبراغوښتی وای قتال به یې نه وی کړی لیکن الله تعالی کوي هغه څه چې وی غواړي).

اوالله تعالی فرمایلی:

(وَلَوْ شِئْنَا لَآتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ هُدَاهَا وَلَكِنْ حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّي لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ)[سورة السجدة: 13]

(که چیری جبرا مونږ غوښتی وای خاماخا به مونږ هر نفس ته هدایت کړی وای، زمونږ وینا ثابته شوې چې خاماخا به زه جهنم ډکوم د پیریانو او انسانانو څخه).

عقلي دلیل:

ټول کاینات دالله تعالی ملک دی اوانسان ددی کون یو جزء دی نو دا هم دالله تعالی ملک دی مملوک اختیارنه لری چې دمالک په جایداد کې لاسوهنه وکړي مګر د مالک په اجازه او د هغه په خوښه یې کولای شي.

داسلامی عقیدې هدفونه:

هدف په لغت کې په دوه معانیوسره استعمالیږي

۱:-هغه نښه چې دویشتلو د پاره درول شوې وي هغې ته هم هدف وایې.

۲- هر مقصدي كار ته هدف ويل كيږی. داسلامي عقيدې هدفونه يعني دهغې مقصدونه اولاس ته راوړني چې مرتب وي په عمل كولوسره نودغه هدفونه ډير او قسماقسم دي چې ځينی يې په لاندی ډول بيانيږي:

1-الله تعالی ته په بنده ګۍ كولوكې اخلاص،ځكه چې هغه خالق دی هيڅ شريک نلری نو لازمه ده چې دغه خالق مقصد وګرځولای شي او يواځې دده عبادت وكړای شي.

2-دسوچ فكر را ازادول دهغه ليونتوب او ګډوډۍ څخه چې پيداشوې په هغه زړه كې چې خالي دی د دغه مقدسې عقيدی څخه، ددی وجه نه كوم زړه چې ددغه عقيدې څخه خالي وي ياخوبه هيڅ عقيده نه لری صرف د محسوساتو بنده به وي او يا خو به په ګمراهۍ او خرافاتو كې ليونتوب ته رسيدلې وي.

3-نفسي او فكري راحت، نفس فكر هيڅ قسم پريشاني نه احساسوی ځكه دا عقيده مومن خپل خالق ته رسوي، دهغه په ربوبيت او تدبير كولو، اوفيصله،

اوتشريع باندې خوشحاله وي، دهغه په قدر باندې دده زړه ته ارام او سكون راځي، اسلام ته يې سينه پراخيږي او د اسلام په مقابل کې بل بديل نه لټوي.

4-د الله تعالى په بندګۍ کې او د مخلوق سره په تعامل کې دده قصد او عمل د کجروۍ او انحراف څخه پاک وي، ځکه هغه چاچې په پيغمبرانو باندې دايمان راوړلو مضبوط بنياد کېښوده چې مشتمل وي په پيروۍ کولو سره دپيغمبرانو دلياري نو دغه انسان پخپل قصد او عمل کې د پوره سلامتيا خاوند دی.

5-کلکوالي او کوښښ کول په کارونوکې:

نه بربادوي هيڅ فرصت دعمل صالح مګر د هغې څخه ګټه اخلي د ثواب په اميد. اونه ګورې د ګناه يو ځای مګر د هغې څخه ږ ده کوي دالله د عذاب ديرې دوجه، ځکه چاچې په دوباره ژوند اوپه عملونو باندې سزا ورکولو سره خپل ايمان مضبوط کړ.

(وَلِكُلٍّ دَرَجَاتٌ مِّمَّا عَمِلُواْ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ) [سورة الأنعام: 132]

(د هر چا دپاره درجې دى د هغه د عملونو مطابق كوم يې چه كړيدي او نه دى ستا رب ناخبره دهغه عمل څخه چې دوې يې كوي).

اونبي-صلى الله عليه وسلم-په دغه مقصد هم په دنياكې تيزې وركړيده:

(المؤمن القوي خيرٌ وأحب إلى الله من المؤمن الضعيف، وفي كل خير، احرص على ما ينفعك، واستعن بالله، ولا تعجز، وإن أصابك شيء فلا تقل: لو أنِّي فعلت كذا كان كذا وكذا، ولكن قلْ: قدَّر الله وما شاء فعل؛ فإن (لو) تفتح عمل الشيطان)

(قوې ايمان والا بهتردى اوخوښ دى الله تعالى ته دكمزورې ايمان والاڅخه اوټولوكې خيرشته،هغه څه چې تاته ګټه رسوې په هغې حرص كوه اودالله څخه مرسته وغواړه اوكه چيرې تاته څه تكليف ورسيږې مه وايه كه دامې كړى واى نوداسى به شوې واى او داسې به شوې واى، ليكن ووايه: هرشې الله اندازه كړى اوهغه

څه کيږي چې الله يې وغواړي بیشکه-لو-دشیطان لیار پرانیزي) روایت يې امام مسلم کړی.

6- داعقیده یوپیاوړی امت جوړوي صفت به يې داوی چې هر قیمتی او ارزانه ددي دین په کلکوالي خرچه کوي او ددی دین ستنې به وربانديي کلکوي اوپه دغه لیارکي چي ورته هرڅه رسيږي پروایې نه لري. دی باره کي الله تعالی فرمايلي:

(إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُوْلَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ) [سورة الحجرات: 15]

(بیشکه هغه ایمان والا چې صحیح ایمان يې راوړی او شک يې نه دی کړی او جهاد کوي پخپلو مالونو او نفسونو د الله په لیارکي صرف هم دوي ريښتيني مومنان دي).

7-د دنيا او اخرت سعادت ته دی رسوي که انفرادی طور سره وي او که اجتماعي طور سره اوکه د ثوابونو او عزتونو حاصلیدلو سره وي. دي باره کي الله تعالی فرمایلی:

(مَنْ عَملَ صَالحًا مِّن ذكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بأَحْسَنِ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ)

[سورة النحل: 97]

(څوک چي د قران او سنت موافق عمل وکړي که نارينه وي او که ښځينه وي پداسی حال کي چې مومن وي، خاماخا قسم دی مونږ به دوي ته مزيدار ژوند ورکړو، او خاماخا قسم دی مونږ به دوي ته خايسته اجر د دوي د عملونو ورکړو).

داسلامی عقيدې دا يوڅو هدفونه وو الله څخه اميد لرو چي مونږ او ټولو مسلمانانو کې پيدا شي.